بسم الله الرحمن الرحیم

الله اکبر

محاذ

د افغانستان ملی اسلامی محاذ

Mag 5

بسم الله الرحمن الرحيم

وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ ۝ سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۝

وآنانیکه کشته شده در راه الله پس هرگز ضایع نخواهد کرد عملهای ایشانرا، بزودی راه نماید ایشانرا و اصلاح کند حال ایشانرا .

تفسیر : کسانیکه در راه خدا به شهادت رسیده اند اگرچه ظاهراً درین جهان کامیاب بنظر نیایند، لیکن حقیقتاً آنها کامیاب هستند - خدا کارهای آنها را ضایع نخواهد کرد بلکه سرانجام زحمتهای آنها موقع بزرگ حاصل می کند . ایشانرا بسوی جنت سوق میدهد و در تمام منازل و مواقف شان حال آنها را درست نگه خواهد داشت .

بسم الله الرحمن الرحیم

محاذ

در هر دو ماه یکبار نشر میشود

سال سوم - شماره اول - قوس جدی ۱۳۶۷ ه ش

مطالب عمده‌ای

که در این

شماره میخوانید

شماره ——— مضمون ———

۱ - سرمقاله .

۲ - دلایل تغیر سیاست شوروی در مورد افغانستان .

۳ - خرس کاغذی .

۴ - مسلمان امیر او د هغه حکومت د اسلام له نظره .

۵ - ربښتني همت .

۶ - به شروع مذاکرات مستقیم مجاهدین با روس ها جهاد مقدس نه تنها خاتمه نیافته بلکی مسیر خویش را در اذهان بین المللی میگشاید .

۷ - اساسات حکومت اسلامی .

۸ - جنایات و مظالم روس های ملحد .

۹ - خیر خیرات .

۱۰ - نیرنگبازی روس .

۱۱ - جنرال بازی ها و کودتائی که انقلاب نبود .

۱۲ - آیا یو تانک دولایت له پاره بس دی .

۱۳ - د پالکیک .

۱۴ - په قرآن کریم کی د جهاد آیتونه .

۱۵ - هغه نه هم د توپک غل نه ؤ معلوم .

۱۶ - علوم القرآن ته یوه کتنه .

۱۷ - دا زما لپاره لوی ویاړ دی چی یو مترگه او دواړه لاسو نه می د خدای (ج) په لاره کی قربانی کړل .

۱۸ - په اسلام کی جهاد .

۱۹ - د هیواد هر مجاهد باید د یو مهربانه او زړه سواند طبیب په حیث د وطن د مصیبت ځپلو پرگنو په زوبلو زړونو پټی کیږدی .

۲۰ - اسلحه را بیاموزید و استعمال کنید .

۲۰ - د شعر گلبن

۲۲ - شهدای راه حق .

دامتیاز خاوند: دافغانستان ملي اسلامي محاذ.

ناشر: دفرهنګي ریاست دنشراتو لوی مدیریت.

مسوول مدیر:

عبدالملک بختیار

مهتمم: محمد داود

د جدي شپږمه يا د روس د نړيوالي رسوايي تاريخي نيټه

د افغانستان د مسلمان او مجاهد ملت معاصر تاريخ د دين او آزادۍ د دفاع د لارې د مبارزو او اتلوليو تاريخ دى . ددې سربښندونکي او جنګيالي ملت د وياړونو تاريخ دى او د ٱفتخارونو . دداسې لويو لويو استعمار ضد او انساني کارنامو تاريخ دى چې د ټول له پاره نړيوال ورته له حيرانتيا څخه ګوته په غاښ پاتې شوي دي .

د روس وحشي او خونړيو پوځونو هم د خپل مادي ځواک او پرمختللو پوځي وسلو په اتکا د ۱۳۵۸ لمريز کال د جدي په شپږمه نيټه زموږ په ګران او تاريخي هيوا د باندې خونړى تيرى وکړ . خو له نيکه مرغه زموږ شجاع او غيرتمن ولس د خپلو شهيدانو او غازيانو نيکونو په شان تورې او ټوپک ته لاس کړ او پوره نهه کاله يې د روس دتيري کوونکو پوځونو او دهغوى د کمونيستي بريځو په مقابل کې خپله وسله وال مبارزه په ډيرې ميړانې سره پرمخ بوتله او دادې زموږ د مجاهد ملت د سلګونو زرو قربانيو او بې شميره مالي تلفاتو د ورکولو په نتيجه کې روسي استعمار دې ته مجبور شو چې په شرميدلې ماتې سره زموږ هيواد پريږدي او خپل جنايتکار پوځونه په بشپړ توګه زموږ له خاورې څخه وباسي .

د روس د استعماري ځواک اوسني سردمدار ګرباچوف د افغانستان آزاد او سوله دوست هيواد ته د روس د خونړيو پوځونو د راليږلو مسؤليت د بريژنيف په غاړه اچولى دى او په دې توګه غواړي چې خپل ځان د هغو زرګونو روسي عسکرو د مرګ او ژوبلې له مسؤليت څخه وژغوري چې د روسي تيرې په دغو لهو کالو کې د افغاني جنګياليو مجاهدينو په لاس د خپل ناروا عمل په سزا مړه او ټپيان شوي دي .

لکه څرنګه چې نړيوال شاهد دي چې افغانانو نه يوازې دا چې د خپلې مقدسې عقيدې او آزادۍ ددفاع په لاره کې خپله فريضه په ډيره ښه او شانداره توګه سر ته ورسوله بلکې د روس په اصطلاح د نه ماتيدونکو سرو پوځونو نړيوال پوځي حيثيت يې هم درې ورې کړ او دا هغه نړيوال افتخار دى چې افغانانو د خپلو سرونو په قربانۍ سره تر لاسه کړ .

د روس کمونستي نظام اوس د سيمې او نړۍ خلکو ته داسې لوڅ او بربنډ شو لکه د ژمي توت . نور به نړيوال په هيڅصورت د روسانو په نرمو او غوړ خبرو باور ونه کړي او نه به د هغوى د سرو پوځونو له لاپو شاپو څخه ووېرېږي .

نن د افغانستان د جنګياليو مجاهدينو دتورې او ميړانې په برکت د پولنډ ،چکوسلواکيا او د منځنۍ آسيا د اسلامي جمهوريتونو په ګڼو کې آزادي غوښتونکي خوځښتونه پيل شوي دي او له دې خوځښتونو څخه روسي استعمار ګران ډير په ويره کې دي ؛ نوځکه د روسانو د کمونستي نظام اوسني سرد مدار ګرباچوف د ولسونو د

پاتې په ۸ مخ کې

ذ ـ ورکزی

دلایل تغیر سیاست شوروی درمورد افغانستان

هویدا و روشن است که روسیه شوروی پر حسب خاصیت تجاوز گرانه و پلان های توسعه‌جوی خود در طول سال های متمادی با نقشه ریزی های خبیثانه و حیله های گونا گون زمینه را برای اشغال افغانستان تهیه دیده بود . . و درین راه از هیچگونه چال وفریب خوداری نکرد بدین منظور یکتعداد عناصر خود فروش و دون همت را در دام نیرنگ و تزویر خود اسیر ساخته و یک گروه وطن فروش را تحت عنوان حزب کمونست نام نهاد بعداً حکومات افغانستان را با قرارداد های عدم تجاوز و دوستی و پیمان های همکاری نظامی و صنعتی اغفال نمود تدریجاً شبکه های جاسوسی و پلان های ستراتیژیکی خویش را وسعت داده و همان بود که در دسامبر سال ۱۹۷۹ به افغانستان تجاوز نظامی نموده و با استدلال و بهانه های طفلانه خود را در انظار عام و جهان بین‌المللی رسوا و تشهیر کرد .

روسیه شوروی در بر آوردن اهداف شوم و جنایتکارانه خود از هیچگونه ظلم ، جنایت، کشتار ملیون ها انسان قتل بدون محاکمه هزاران مجاهد و تعلیم یافته ، تخریب مزارع به آتش زدن اسکان و شکنجه هزاران محبوس بی گناه دریغ ننمود تا اینکه به جهاد و حقوق حقه مردم افغانستان گردن نهاد و دست صلح دراز نموده و معنی واقعی شکست را چشید درینجا باید یاد آور شویم که این تغیر سیاست و فروتنی شوروی را نباید به حسن نیت او عطف کرد بلکه دلایل و عللی موجودند که روسیه را مجبور به قبول این ذلت ساخته است .

اول : باید به این حقیقت اعتراف کرد که مردم مسلمان افغانستان با ایمان کامل به وحدانیت الهی و عقیده محکم به احکام دین مبین اسلام و با قبول هرگونه مشکلات جنگی و مالی، با تحمل فقر وفاقه، گرمی های وحشتناک و زمستان های کشنده ، با کمبود سلاح و وسله جنگی و با دادن شهیدان فروان و با از دست دادن زن ، اولاد و هرگونه لوازم زندگی ولی با شهامت بی مانند و شجاعت بی مثال بجهاد فی سبیل‌الله پرداختند واین یکی از عوامل اساسی وبرجسته شکست روسیه در افغانستان محسوب میشود .

دوم : در طول قرنها تاریخ قدیمی و معاصر افغانستان شاهد مبارزات شجاعانه و افتخار آمیز افغانها بوده

است . طبع آزادی خواهی و استقلال طلبی یکی از خواص و مشخصات است که خداوند تبارک و تعالی بمردم ما ارزانی داشته است . این خاصیت نه به زور کسب میشود و نه به زر خریده میشود این ودیعهٔ خداوندی در خون ما عجین گردیده و جریان دارد .

قوماندانها و سر افسران روسیه چنان به زور بازو و وسایل پیشرفته جنگی خود مغرور بودند که هرگز باور نداشتند که مجاهدین افغان چنان پایدار و دوامدار مقاومت نموده و اردوی سرخ را کجا تبلیغات و پروپاگند ها بحیث یک لشکر شکست ناپذیر در جهان معرفی کرده بودند فرار رابرقرار ترجیح دهند بدین صورت بود که مقاومت سرسختانه مجاهدین و ملت افغان یکبار دیگر به جهانیان درس عبرت و آزادی خواهی آموخت و کاخ خیالی و تصورات پوچ رژیم شوروی را از هم پاشید .

سوم : پشتیبانی جهان آزاد : در مراحل اولین قیام مردم افغانستان اکثر ممالک عربی بصورت ناظر اوضاع و احوال را تعقیب میکردند حتی بعضی از مفسرین اروپائی عقیده داشتند که مبارزه آزادی خواهی افغانها شاید چند ماهی دوام نموده و بالاخره توسط شوروی سرکوب خواهند شد آنها بعد از جنگ دوم جهانی از اشغال هنگری ، پولیند و چکوسلواکیا خاطرات بسی تلخ داشتند ازین رو در مورد مبارزه افغانها برای آزادی وطن شان چندان خوشبین نبودند . اولین شخصیتی که از حقوق و از جهاد برحق مردم ما دفاع نموده بپا خواست زعیم برجسته جهان اسلام و شخصیت مبارز مصر انور سادات بود که در طریق اسلام

و عدالت جان خود را از دست داده و بدرجه علیای شهادت افتخار یافت مقاوت دلیرانهٔ و از خود گذری بی ما نند مجاهدین افغان سبب شد تا دول غربی در مورد موضوع افغانستان توجه نموده و اعلامیه های مکرر با تائید از فیصله های ملل متحد صادر نمایند و درین راه از هیچگونه سعی و تلاش دریغ ننمایند این همه پشتیبانی و ثبات قدم سبب شد تا جهان مبارزه آزادی و از خود گذری مردم افغانستان صفحات اول جرائد دنیا را اشغال و نام نامی شان در سراسر گیتی پخش شود .

درینجا دور از هر نوع انصاف خواهد بود اگر ما از مهمان نوازی و استقبال گرم برادران پاکستانی خود از سه ملیون مهاجر افغان و با استقامت سرسختانه شان از حقوق و جهاد مردم ما تذکر ندهیم .

باید یادآور شویم که در محور این کشمکش های سیاسی جهان ، جهاد خالصانه مردم ما در راه دین مبین اسلام و صرف برای خداوند(ج)قرار داشته و عامل اساسی و اولین را تشکیل داده است یقین است که طبع آزادی خواهی و وطن دوستی مردم ما، جذبات جهادی را استحکام و ثبات بیشتر نصیب کرده است .

چارم : نابسامانی نظامی و بحران اقتصادی شوروی : این مبحث محتوای وسیع دارد ولی ما کوشش میکینم تا بصورت مختصر نکات اساسی آنر تذکر بدهیم .

ألف نابسامانی نظامی : اردوی سرخ یکی از بزرگترین اردوی جهان بوده متشکل از چندین صد فرقه و تعداد مجموعی او تقریباً به چهار ملیون میرسد بنا پر کثرت نژادی و قومی هیچگاه در داخل قشله ها نظم و نسق عسکری مراعات نگردیده و کدام وحدت و اتفاقی بمشاهده نمیرسد زیرا امتیازات و حکمفرمائی صرف به اعضاء حزب کمونست تعلق گرفته وسائر ازاو بشکل وسیله و غلامان بی چون و چرا استعمال میشوند باید تذکر داد که بالاتر از یکصد ملت و ملیت در اتحاد شوروی زیست میکنند که تاریخ ، کلتور ، رسم و رواج ، نژاد اورپاو بالاخره عقائد شان آنها را از یکدیگر جدا می سازد در

حققت مردم اتحاد شوروی از یک مخلوط سیر متجانس تشکل یافته و طی قرون متوالی مورد تاخت و تاز های فراوان اروپائی ها و ملل دیگر قرار گرفته است . اشغال گران همه عقائد ، ادیان و عنعنات قومی خود را بیادگار گذاشته اند ، که در طول اعصار متوالی با وجود تلاش های مذبوحانه سیستم خشونت بار و ستمگر کمونستی نه تنها از بین نرفته اند بلکه روز بزور احیای مجدد شان یکی از عوامل اساسی و عمده از هم پاشیدن دولت سرتنبه و خون آشام روسیه را تشکیل میدهد . پس دیده میشود که ترتیب ونظم یک اردوی متحد الشکل با عقائد و نظریات مختلف بعید به نظر میرسد . هویدا و روشن است که ایدیولوژی مارکسیست در روسیه بذات خود زادهٔ یک اجتماع متفرق و عاری از هر گونه اصالت و حقیقت بوده و چطور امکان دارد که همه اقوام و ملیت ها را یکسان و هم مانند قیاس نمایم؟ با تمام این اختلافات نژادی و قومی روس های سفید خود را بالا تر و ممتاز تر از دیگران محسوب میکنند و این یکی از عوامل دیگر تجزیه طلبی و انفجار بشمار میرود پس دیده میشود که اردوی سرخ ظاهراً لباس فورم و نشان همرنگ دارند ولی در حقیقت عقائد نظر و کردار شان عمیقاً از یکدیگر تفاوت داشته و هیچگونه انسجام و هم اهنگی ندارند و عنوان های شکست نا پذیری و جنگجوی بجز از یک پروپاگند و القاب خیالی بیش بوده نمیتواند .

ب : بحران اقتصادی : ـ در پیدایش بحران اقتصادی در روسیه شوروی دو عامل بزرگ رول عمده دارند که ذیلاً توضیح میشود .

اول: اتحاد شوروی ازآغازانقلاب صنعتی مرتکب دو اشتباه بزرک شد یکی اینکه خواست صرف مناطق اروپائی روسیه و اوکرائین را صنعتی سازد و بدیگر جمووریت ها هیچگونه توجهی نکرد این عدم توازن سبب شد تا یکتعداد کارگران را بصورت اجباری از یک منطقه به منطقه دیگر بدون نظر داشت پروبلم های صحی و معضله های جغرافیائی و قومی انتقال دهد. البته شرایط کار نیز غیر انسانی بوده و اکثراً تطبیق پروژه ها بشکل اجباری وشاقه تحمیل میشد توزیع غیر عادلانه و دلخواه سیستم کمونست در اقسام دستمزدها از یکطرف و انزجار مردم از طرف دیگر سبب شد تا تعداد زیادی‌ازکارگران‌از اجرای‌وظائف شانه‌خالی کرده و فرار نمایند . نکته قابل تذکر اینست که از آغاز صنعتی ساختن، اتحاد شوروی هیچگونه سعی و تلاش در مسلکی ساختن کارگران بعمل نیآورد و این اشتباه با شرایط نا مساعد و وحشیانه محیط کار سبب تلفات سنگین گردیده و پروژه ها مطابق به پلان های پیش بینی شده به انجام نرسید و سبب شد تا یک بحران اقتصادی مهم دامنگیر روسیه شوروی شود .

دوم : رشد ونیازمندی دیموگرافیک (ازدیاد نفوس) در سیر و تکامل زندگی ممالک ارزش عمده دارد و نه بائست بشکل حوادث مجرد و یا عوامل بدون ارزش تلقی گردند .

ازیکطرف عدم توجه دولت مرکزی در مسلکی ساختن کارگران و از طرفی تزاید غیر متوازن رشد نفوس در آسیای مرکزی و تضعیف توالد و تناسل در حوضه های روسی سفید و اوکرائین سبب بمیدان آمدن عدم موازنه و کمبود کارگر در مناطق صنعتی شد . این عدم توازن یکی از مشکلات بزرگ روسیه شوروی را تشکیل میدهد و حل آن نیز به این زودی ها غیر متحمل است ازین رو پلان های اقتصادی هیچگاه مطابق به پیش بینی، محصول نداده و نقصان رشد اقتصادی روز بروز غیر قابل تحمل و کمرشکن گردید .

انتقال کارگران از مناطق به حوضه های دیگر سبب شد تا تعداد زیادی ازقصبات خالی گردیده صرف اشخاص مسن و زنان مشغول گذاره شبا روزی

گردند ازین رو تنزیل قابل اهمیت در تعداد دهاقین نیز بچشم خورده و محصولات زراعتی نیز در طول سال ها کاهش یافت.

سوم: تلاش های جنون آمیز شوروی در مسابقات فضائی، مصارف گزاف و بیش از منطق آنها در ساختمان سلاح و افزار جدید نظامی روز بروز در پائین آمدن سویه زندگی مردم شوروی رول بارز داشته و سبب شد تا استفاده های سوء، رشوه خوری و کارشکنی ها بحد اعلا برسد. این بی نظمی ها و نابسامانی ها هنوز مشکلات اقتصادی را دامن زده و معضلات بمیان آورد که حل آن بعید بنظر میرسد. مگر اینکه اتحاد شوروی تمام سیستم صنعتی اداری، زراعتی و نظامی خود را دوباره مورد غور و تجدید نظر قرار داده و سعی کند تا در امور اجتماعی و اداری خود تا حدودی توازن قابل قبول را مروج سازد ولی گفت که تحول این سیستم کهنه و دور از هرگونه لزوم بذات خود مصارف هنگفت و بالا تر از توان فعلی شوروی را ایجاب میکند.

بدین صورت می بینیم که عوامل فوق الذکر را تجدید نظر رژیم شوروی در مورد افغانستان رول عمده داشته، مقاومت پایدار و سر سخت مجاهدین افغان از یکطرف و اسباب فوق الذکر از جانب دیگر ولی بصورت عامل ثانوی، حکمفرمایان کرملین را مجبور ساخته است تا از سر تنبگی بی جاه و جاه طلبی های بی مورد صرف نظر نموده و حقیقت های زندگی را قبول نمایند در غیر آن این عدم توازن اقتصادی و مصارف گزاف شان جهت پشتی بانی از رژیم های مزدور و دست نشانده که هیچگونه اساس مردمی ندارد، سبب خواهد شد که روزی ملیت های غیر متجانس شوروی به قیام های استقلال طلبی و بغاوت دست زده و امپراطوری بزرگ روسیه را از هم بپاشد.

باید تذکر داد که جهاد برحق مردم افغانستان درین دهسال بالای جمعیت های مناطق مختلف شوروی بی اثر نمانده و آنهائیکه از سالیان مدید بدین طرف هر گونه مشکلات جبر و ستم و تبعیض گوناگون را متحمل شده اند روزی بپاه ایستاده و امپراطوری روسیه را از داخل منفجر خواهند ساخت.

مجاهد دلیر با سلاح ثقیله خود درحالت آماده باش

م قیام

خرس کاغذی

زلزله ارمنستان اگر چه از نگاه ویرانی و تلفات جانی عاطفهٔ بشریت را در مجموع جلب کرد. اما این حادثه بسطح جهانی آن از دو نگاه اهمیت خاص داشت؛ اول ازین ناحیه که قدرت روسیه را در محک آزمایش قرار داده وثانیاً اینکه تلفات وویرانی های آن از روز ۱۷ قوس یعنی آغاز این حادثه تا امروز در برابر دید مردم روسیه و قلمرو های اسیر آن قرار گرفت، صحنه های که مسکو خوش نداشت چنین حادثهٔ آنهم مربوط قلمرو امپراطوری روس در برابر چشم مردمان داخل این امپراطوری قرار گیرد.

روسها در شصت سال اخیر خصوصاً بعد از جنگ عمومی دوم خود را قدرت بزرگ جهانی قلمداد میکردند و در روزگار بریژنف مسکو خود را در رأس قدرتی وانمود میکرد که در جهان از همه پیشی دارد با این ادعا روس ها خصوصاً میخواستند به کشور های جهان سوم چنین حالی سازند که آینده از روس هاست و قدرت موجوده از روسهاست، لذا باید از نگاه اقتصادی، نظامی و سیاسی به آن اتکاء داشته باشند این ادعای دروغین روس یک تعداد رهبران سطحی نظر را در جهان سوم فریب داد و آنها را در دام تزویر روس انداخت اعتبار به همین ادعا های مسکو بود که در بیست سال گذشته یک تعداد کشور های کوچک مربوط جهان سوم در دام تسلط و ایدیولوژی روس افتادند.

اما زلزله ارمنستان پرده ازچهرهٔ دروغین روس بیرون انداخت این واقعه قدرت اقتصادی روس را به مسابقه طلبید و نشان داد که توان اقتصادی روس تا کدام حدود است همزمان با وقوع این حادثه میخائیل گورباچوف رهبر روسیه از تمام جهان کمک خواست صندوق های اعانه در کوچه های مسکو و دیگر شهر های امپراطوری روسیه گذاشت سکه سکه پول برای کمک آسیب دیدگان و خانواده های بی سرپناه ارمنی جمع کرد. کشور های دیگر که همیشه روس آنها را در عرصهٔ بین‌المللی رقیب خود میدانست به ارسال مواد کمکی به ارمنستان شروع کردند، واحد های امدادی و کارشناسان غربی به ارمنستان ریختند در پیش روی محتاجان و مصیبت رسیدگان ارمنی بجای کمک های قدرت بزرگ روس بسته های ازمواد غذایی و کالای امدادی دیگران گذاشته شد و آنگاه مردم روس دیدند که مسکو تا امروز برای آنها دروغ میگفته است و روس یک امپراطوری بزرگ از قلمرو های اسیر است و اما یک قدرت اقتصادی جهان نیست.

مسأله دوم و بسیار مهم اینکه روس ها در دهسال گذشته جریان

بربادی و ویرانی را در افغانستان از چشم مردم امپراطوری روس دور نگهمیدا نستند، ویرانی و کشتاری که روسها خود توسط قشون سرخ در افغانستان براه انداخته اند اما بیکبارگی یک سانحهٔ طبیعی سبب شد که هر روز در پروگرامهای تلوزیونی و بخش های نشراتی شامل رادیو و اخبار، صحنه های از ویرانی زخمی شدن و بی خانمان شدن در برابر چشمان مردم امپراطوری روس قرار گرفت. اگر چه این ویرانی ها در داخل امپراطوری روس، در قلمرو متفرقهٔ ارمنستان صورت گرفت، اما از نگاه واقعه خواهی لخواهی جریانات مشابه را در برابر دید مردم روسیه و ملل اسیر آن قرار داد.

آنهای که از تراژیدی افغانستان آگاهی داشتند، دیدند که در دهسال گذشته بر سر مردم افغانستان روس ها چه آوردند، تا چه حد ویرانی کردند، چقدر کشتند، تا چه اندازه سوختند و به صد ها هزار را آواره و بی خانمان ساختند.

صحنه های ویرانی و بی خانمان و زخمی شدن در ارمنستان برای مردم داخل امپراطوری روس این حقیقت را نمایان ساخت که چه وحشت های را در داخل افغانستان مرتکب شده و اما از اشاعهٔ آن خود داری کرده است مردم امپراطوری روس اکنون خوب میدانند که ملت افغانستان در دهسال تمام چه مصیبت عظیم و چه رنج جانگاه را تحمل کرده است و روس ها چه تلاش های برای بی خبر ماندن مردم ازین وحشت بخرج داده اند.

رهبری مسکو خوش بود که ویرانی های زلزله احساس قیام و خدمت ملت ارمنی را در برابر تسلط روس خاموش خواهد ساخت، اما روس ها می بینند که این تراژیدی نه تنها احساسات ضدیت را در ارمنستان علیه حلقه رهبری روس و استبداد انسا لکش کمونیزم ضعیف نساخته بلکه برعکس آنها را بیشتر متوجه کم توجهی و بهره برداری روس ها کرده است در شصت سال گذشته روسها بیشترین سرمایه و تخنیک را برای آسایش ملیت روس بکار انداختند و ملیت های اسیر را از چشم انداختند این تبعیض و استثمار گری روس را می توان در جمهوریت های اسیر روس بوضاحت مشاهده کرد. سانحهٔ ارمنستان برای ملل اسیر دیگر در امپراطوری روس نشان داد که روسها بیشتر مشغول حال خود بوده اند و دیگران فقط برای اسارت و بردگی در این امپراطوری نگهداشته شده اند.

ددوېم مخ پاتې دجدي شپږمه یادروس ....

غولولو او د آزادي غوښتونکو جنبشونو د تیزوالي د مخنیوي په غرض په ځینو ریفورمونو پیل کړی دی. خو نړیوال او تر روسي استعمار لاندې آزادي خواهان اوس په هر څه پوه دی او د ګرباچوف په اوتو او تونه‌غولیږي.

لکه څنګه چې په افغانستان باندې د روس د خونړیو پوځونو خونړی تیری د تولی نړۍ له خوا محکوم او وغندل شو دغه راز له افغانستان څخه د روسي پوځونو بیرته ستنیدل هم د روس د شرمېدلی ماتی سبب شو او په نړیواله سویه یې روس له شرم او رسوایۍ سره مخامخ کړ.

موږ په دې پوره باور لرو چې د روسي پوځونو په بشپړ وتلو سره به د افغانستان د مجاهدینو د اسلامي اتحاد د بوالی او اتحاد په صورت کې د روس کمونستي بریځی هم د هغوی په لاره روان شي او له همداسې ماتی او رسوایۍ سره به مخامخ شي لکه باداران یې. انشا الله تعالی بری زموږ دی.

مولوی عبدالوسیع نعمانی

مسلمان امیر او د هغه حکومت د اسلام له نظره

حضرت محمد ﷺ په خپل بعثت سره د نړۍ ټولو مسلمانانو ته د دنیوی او اخروی برکتونو او نیک بختیو زیری راوړی دی، محمد مصطفی ﷺ بشریت ته نه یوازی د عبادی او مذهبی ژوند ارشادات فرمایلی دي بلکه همدا رنګه ټول مخلوق ته ئې د سیاسی او ټولنیز نظام چه د عدالت په بنسټونو ولاړ دی بشارت ورکړی دی، تر څو د هوی خوا په نړۍ کی د لوی خدای (ج) عبادت او بندګی او د هغه د رضا لاس ته راوړل پرته د کومی ویری او ډار څخه وکړی شی او له بلی خوا خدایی نظام او الهی حکومت د متعال خدای (ج) د قانون سره سم په نړۍ باندی قایم شی او د ځمکی له مخ نه فتنی، فسادونه، ظلم، خیانت دروغ، غصب، دوکه بازی، سود او جګړی پای ته ورسیږی او د ټولو بندګانو په منځ کی د عدالت، انصاف امنیت او آرمی ژوند او کړنلاره شروع شی.

په حجة الله البالغة نومی کتاب کی شاه ولی الله دهلوی (رح) دا سی فرمایی: په اسلام کی چه څو مره حدود او تعزیرات شته د هغوی یوازینی هدف او مقصد د ځمکی د مخ نه د فتنی او فساد ورکول دی. او څومره اوصول او قوانین چه په معاشراتو او معاملاتو کی شته د هغو مطلب د خلکو په منځ کی د آرامی، سوکالی، امنیت او عدالت برپا کول وی، او په معاملاتو کی چه څومره شیان حرام او منع ګڼل شوی دی د هغو ټولو هدف د ټولنی څخه د چل، دوکی، فریبونو او شخړو محوه کول دی.

د دی پور تنی بیان له مخی موږ پوهیږو چه په اسلامی اجتماعی نظام کی هیڅ رته هم نسلی او نژادی توپیر، ادبی او لسانی توپیر، فرهنګی او کلتوری توپیر او د هوا او اقلیم توپیر تر بحث لاندی نه دی راغلی او نه په دی قانون کی تبعیض او ترجیح شته. داد لایزال خدای (ج) قانون دی او د ټولو بندګانو لپاره یوشان جوړ شوی دی، د هر انسان لپاره که عربی وی که عجمی، که تور وی که سپین، که هندی وی یا تا تاری که آسیایی وی یا اروپایی او که شرقی وی او یا غربی مساوی او برابر قوانین او حقوق پکی شته.

دا ټول قوانین په ټوله کی هلته تطبیق کیدای شی چه هلته په الهی بنیادونو ولاړ مسلمان امیر او اسلامی امارت موجود وی او ټول خلک دیو مسلمان او متدین شخصیت په غوره کولو کی هم نواشی، حضرت عمر فاروق ؓ فرمایلی: **والله ما یزع الله بسلطان اعظم مما یزع باالقرآن** : کنزالعمال: یعنی په الله قسم دی څو مره چه د پاچا په واسطه خلک له فتنی او فساد نه منع کیږی هغه ډیر لوی دی له هغه

نه کوم چه په قرآن منع کیدای شی محمد مجتبی ﷺ فرمایلی دی : اسلام د توری لاندی دی ، یعنی د اسلا می احکامو تطبیق اودهغه پیاده کول او دتولو فواحشو قلعه اوناپودکول او د هغه په ځای د اسلا می ریا ست جوړول دتوری اوجهاد پهواسطه را تلای شی .

په بل حدیث شریف کی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی : هغه څوک له تاسی نه چه و وینی نا وړه کا ر (په تولنه کی) نو هغه ته د تغیر ورکړی په لاس باندی (دا کار پاچا په ښه توگه اجرا کولی شی) او که یی قدرت نهٔو بیادتغیر ورولی پهژبه (تبلیغ اونصیحت په واسطه) او که دهغوقدرت یی هم نهو نوبیا د تغیر ورولی په زړه باندی (په زړه کی له هغوکارنه کرکه اونفرت وکړی) او داسړی(ترټه‌لونه)ضعیف الایمانه‌دی.

ددی پورتنیو حدیثو نو څخه داسی څرگندیږی چه داسلامی قانون تطبیق او پیاده کول اودفتنی اوفساد له منځه وړل دتوری اودمټو پهزور هلته ممکن دی چرته چه په رښتینی معنی یوښیندارم ، عالم ، دقوی ارادی خاوند ، دلوی زغم اوحوصلی خښتن درعیت خواخوږی د مظلومو او بی وزله خلکوملگری اوپه گمراهانو او ظالمانو لاس بری او غښتلی پا چا منځ ته راشی .

د امیر په انتخاب اوتقرر کی

له یوی خوا باید د خلکو د ارا دو احترام وشی اوله بله طرفه باید ملت بی اتفاقه اوونه ویشل شی .

له حضرت علی کرم‌الله وجهه نه روا یت شوی دی او داسی یی فرما یلی دی : نه ښایی خلکو لره مگر یو پاچا هغه که صالح وی او که فاسق ، خلکو ترینه پوښتنه وکړه چه صالح امیر خوښه دی مگر فاسق امیر به څه شان وی ؟ ده ورته و فرمایل چه د فاسق په واسطه هم الله (ج) خلکوته امنیت ورپه نصیب دوی(له لوټ مارانو ، داړه ماړانواو ظالمانو څخه بی وزله او مظلوم خلک په امن اوسوکاله گرزوی) او دده په وسیله له دښمنا نو سره جهاد کیدلی شی ، او دده په وسیله مسلما نانوته غنیمتونه په لاس ورتللی شی او دده په وسیله اسلامی حدود جاری کیدای شی ، او دده په وسیله بیت‌الله شریفی دحج فریضه ادا کیدای شی اودده په وسیله مسلمانان دژوند تر وروستیو شیبو پوری اسلامی شعائیر (اذان ، خطبه ، د جمعی او اخترونو لمونځونه ، دتشریق تکبیرونه اوداسی نور) په پوره داد اواطمنان سره ادا کولی شی .

په بل روایت کی حضرت علی رضی الله عنه فرما یلی دی : په امیر باندی لازمه ده چه دالله (ج) له قانون سره سم خپلی دندی ، فیصله او مسؤلیت په ښه توگه سر ته ور سوی ، خپل امانت ادا کړی(دخلکو ددنیااواخرت کمی په عملی توگه په نظرکی ونیسی اوله هردول ستونزو اوربړونو څخه یي بچ کړی) که چیرته ده خپله‌وظیفه او مسؤ لیت انجام کړ نو په خلکو باندې دده دحکم منل اطاعت او د امر قبولول که چرته دی و غواړی لازم اوضروری دی .

ابن اسحق رضی الله عنه روا یت کړی دی چه کله ابوبکر الصدیق رضی الله عنه خلیفه شونو په خپله خطبه کی یی داسی وفرمایل :

نه دی حلال مسلما نانو لره دوه پاچاهان ، که چیری دوه پاچاهان راشی نود مسلمانانو حکمونه اوامرو نه به مختلف او گډوډ شی ، تولگی به یی تیت پاشان شی ، جنجالونه او شخړې به پکی پیداشی ، نوبیا به په دې وخت کی اسلامی لاره پاته شی بدعتونه او شیطانی لارې به‌پرانستی وی ، داسی لویی لویی فتنی به پیدا شی چه هیچالره به هم بیا د هغو د اصلاح کولو طاقت نه وی ، په اخر کی یی و فرمایل : زه د تاسی امیر تا کل شوی یم تاسی زما وزیرا ن

(معونان) ، دینی ورونه او د همدغه دین مرستیالان ئی .

دمختلفو صحابه کرامو رضی الله عنه نه داسی روایت شویدی چه : په څمکه کی صالح پاچا د خدای (ج) د امن سوری دی کوم چه د خدای (ج) د بندګانو څخه هرمظلوم شخص دهغو په لمن کی پناه اخلی ، په بل ځای کی په دی برخه کی دحضرت ابوبکر الصدیق رضی الله عنه نه داسی روایت شویدی چه ، عادل او متوضع پاچا په ځمکه کی دخدای(ج) سوری اونیزه دی .

ددی پورتنیو احادیثو معنی دانه ده چه پاچا دخدای (ج) سوری دی بلکه دهغومعنی دا ده چه دعدل اوانصاف حکومت دمخلوقاتولپاره په ځمکه کی دخدای (ج) درحمت سوری دی ، داخبره هم جوته ده چه دحکومت په نورو کارکوونکوباندی‌هم د سلطان اطلاق کیدای شی لکه چه په حدیث شریف کی را غلی دی

السلطان ولی من لاولی له -

یعنی هغه څوک چه ولی نلری‌حکومت د هغه والی دی ، دلته د سلطان څخه مطلب حکومت دی ، نو د حکومت هرجائیز نما ینده لکه قاضی حاکم او والی ته هم سلطان ویل کیدای شی .

هغه کسان چه دحکومت کارونه په ښه مشروعه توګه سرته‌رسوی هغو ته خدای (ج) داسی ثواب ور کوی لکه چه نورو عبادت کوونکو ته دعبادت اجر او ثواب ور کوی نودا څرګنده شوه چه حکومت کول هم عبادت دی .

حضرت امیر معاو یه رضی الله عنه د رومیانوسره‌تړیوی تاکلی نیتی پوری دسولی تړون کړی وُ اوپه دی‌دوران کی ئی خپل لښکر د سرحد خواته وخوځول ترڅود تاکلی نیتی د پوره کیدوسره جوخت پرهغوی بریدوکړی دلښکر په منځ کی یونامتو اومشهور صحابی هم موجود وُ . نو هغه په معاویه رضی الله عنه باندی اعتراض وکړ او دایی ورته په‌ګوته کړه‌چه محمد صلی الله علیه وسلم دا دول عمل‌ته بی وعدی کید نه او د عهد ما تیدل ویلی دی ، نو په دی

دملي اسلامي محاذ یوتکړه قوماندان له خپلونورومجاهدینوسره د بې سیم تماس په حال کې

خبره حضرت معاویه (رض) خپل لښکر دسرحدنه واپس کړ . بخاری ، ـ په بل ځای کی نافع (رض) د ابو بکر الصدیق (رض) نه روایت کوی چه ابو بکر (رض) دممبر دپاسه وویل : څوک چه واګی د امت محمدی ﷺ په لاس کی واخلی ولوکه په یوکم شی کی هم وی ، نوبیا د خدای (ج) د قانون سره سمه فیصله و نکړی نو د خدای (ج) دلعنت وړبه وګرزی .

حضرت علی کرم‌الله وجهه فر- مائی : دری خصلته که چرته په قائد (امیر) دمسلمانانوکی پیداشی نو په رښتیا سره دی د هغه لوړ منصب د تاکلو وړ اولائیق دی . اول : ـ په امانت داریه کی به دامی لوړهمت اومتانت لری چه د هردول دباوونو او تمایلاتو په خاطر له خپلی عدلی فیصلی څخه تیر نشی . دوهم : ـ د ټول رعیت په وړاندی به یی خپله دروازه پرانستی وی چه بی له کوم قید او شرط نه ټول رعیت وکولی شی چه خپلی ستونزی اوکړاوونه د ده حضورته دحل لپاره وړاندی کړی دریم : ـ داسی توان او طاقت به لری چه دخدای (ج) کتاب په خپلو اوپردو ، په نیږدو او لیرو خلکوټولو باندی حاکم اوتطبیق کړی .

قطن دوهب زوی د خپل تره نه روایت کوی چه ، زه په یوسفر کی د حضرت عمر (رض) سره ملګری وم کله چه روحا نو می ځای ته نږدی شوو امیرالمؤمنین حضرت عمر (رض) دیونږدی غره څخه دشپانه غږواورید لونو سمدلاسه دشپانه لوری ته روان شو او کله چه شپانه ته نږدی شو نوبغ یی پری وکړ « ای دګډودرمی شپونکیه» شپانه ورته وویل څهوائی؟

حضرت عمر (رض) « بیا وویل ای دګډوشپونکیه » او بیا یی داسی ورته وفر مایل ؛ زه په یوه شنه او زرغونه ځمکه راغلم چه هغه له دغه غره نه هم ډیره زرغونه ده » د دی نه مطلب د حضرت عمر (رض) شپانه ته دښه زرغون ځای ښودنه وه . او په اخیر کی بیا حضرت عمر (رض) شپانه ته وویل « هرو مرو هرشپون د خپلی رمی څخه مسؤل دی » حضرت عمر (رض) دخپلی خواخوږیه دوجیبی داداکولونه وروسته په خپلو ملګروپسی روان شو اوهغوی ته یی داسی وویل : که چیری د ګډی یو وری یی له کومی غم خور ګی نه مړشی ولوکه په غاړه د فرات وی (یعنی که ډیرلیری هم وی) نو زه د الله (ج) څخه ویر یږم چه له مانه به دهغو پوښتنه وکړی .

فضل د عمیره زوی روایت کوی چه ؛ احنف دقلیس زوی څوک چه په هغه وخت کی یی د عراق د والی په توګه وظیفه اجراء کوله دعراق دیوه ډله نمایندګانو په ننیج لی د حضرت عمر (رض) د لیدلو او بیعت ورکولولپاره مدینی منوری ته راغلی او په دی وخت کی هوا هم ډیره ګرمه وه او حضرت عمر (رض) یوزوړ دوړیو شال اغو ستی ؤ او د خیراتونو اوصدقاتو پهن او ناروغه اوښان یی په زرنوکګړول (لړل) کله یی چه احنف (رض) ولیدنو ورته وی وویل : احنفه جامی ذکیږده به تلوار اوچټکی راشه دامیرالمؤمنین سره د اوښانو په ککړولوکی مرسته وکړه ځکه چه داد صد قاتو اوښان دی اوپه دی‌کی دکونډو او یتیمانو حق دی . د نمایندګانو له ډلی څخه یو سړی وویل : ای‌امیرالمؤمنینه خدای د تاسی وبخښی ولی د دی خیراتی غلامانو د ډلی نه یو غلام ته امرنه کوی چه دا کار وکړی ؟ حضرت عمر (رض) وفرمایل : ای د فلانکی زویه کوم غلام به له ما او احنف نه ښه غلام وی چه دا کار په ښه توګه سره سرته ورسوی . بیائی وفر- مایل څوک چه دمسلمانانو امیر شی نوهغه به هرو مرو د دوی غلام وی په دومره پیمانه دمسلمانانو خدمت به کوی په کومه اندا زه چه یو غلام د خپل بادار خدمت کوی چه هغه عبارت دی له : د مسلمانانو د مال ، ناموس ، سر او ابرو ساتنه ، د هغوی خوشحالی او سو کالی لپاره د ځان وقف کول او د امانتو نو ساتل [illegible] نه .

بریښی

رښتینی همت

همت یو غوره صفت دی ، هر انسان دمرام په لوری مخ په وړاندی بیا یې د لومړی دوری مسلمانان په ځانګړی ډول چی له رسول (ﷺ) څخه د روحی تربیې برخورداره وو د لن ورځی همت والو مسلمانانو ته ښه مثال دی .

د دغه ډان انسانانو پوره ځیرنه یو لیکوال په یو مضمون کی نه شی بیالولای خو دلته به له توان سره سمه په لاندی ډول وړاندی شی: لکه چی اسلام د خلکو په زړونو کی ځای ونیو په هر کوټ کی د مسلمانانو بیا وړی طرفداران پیدا شول ، د مخالفینو بله چاره نه وه لو د اسلام تر پردی لاندی غلی شول یو لړ خلک له مسلمانانو سره یو ځای شول چی دحضرت رسول(ﷺ) له وفات څخه وروسته ښکاره شول غوښتل یې چی اسلامی حکومت ړنګ او د مسلمانانو د بریالیتوبونو مخنوی وکړی ، راز راز دسیسی یې جوړی کړی، داخنک دری ډلی وی:

۱ : یوه ډله هغه وه چی د اسلام د قوت او مسلمانانو له ویری یې د اسلام ناری وهلی ، د زړه مینه او اخلاص ور سره نه وو .

۲: ځینی خلک چی د اسلامی احکامو تابعدار وو، خو د زکات له ورکولو څخه یې چی په اسلام کی مهم رکن دی انکار وکړ .

۳: د منافقینو هغه ډله چی د ضعف له امله یې خپله دښمنی څرګندولای نه شوای ، دوی چی د حضرت رسول اکرم(ﷺ) له وفات څخه خبر شول ، دا وخت یې غنیمت وبالله کوښښ یې وکړ چی په مسلمانانو کی اختلاف پیدا کړی د هغوی د قوت د تیت کولو له پاره څه خلک له مسلمانانو څخه بیل کړی او له ستری کامیابی څخه یې محروم کړی دوی له دی څخه بی خبره وو چی رسول(ﷺ)داسی د همت لوی اتلان روزلی دی چی په ایمانداری ، دلاوری ، سربیره تدبیر او تجربی ور سره دی ، په بهادری سره د اسلامی انقلاب : اجتماعی، سیاسی او نظامی ارخونه ساتلی د چا تر تاثیر لاندی نه راځی، دښمنان یې په هر ځای کی له مقابلی څخه پاته وو چی د دی ډلی له اتلو او لوړ همتو څخه یو شخصیت د مثال په توګه معرفی کیږی :

بخاری (رح) په یو روایت کی نقل کړی دی چی عمر(رض)وویل: هغه وخت چی څه عرب له اسلام څخه وګرزیدل نو مهاجرین را تول شول چی زه هم په دوی کی وم، ما وویل : ای د الله رسول(ﷺ)خلیفه! خلک پریږده چی لمونځونه کوی زکات دی نه ورکوی! په یقینی ډول چی د دوی په زړونو کی ایمان ځای و نیسی ، زکات به ورکړی ابوبکر صدیق(رض)وویل : زما د [illegible] قسم په هغه ذات تعالی وی چی د ده په ید کی زما نفس(روح)دی چی که د الله تعالی په لوی مصیبت اخته شم ماته له دی څخه غوره دی چی په یو شی رسول(ﷺ)جګړی کړی وی او زه یې پریږدم، مګر زه به په هغه شی جګړه کوم، له مرتدو سره یې جګړه شروع کړه څو چی تول

بې اسلام ته مجبور کړل عمر(رض) وایې: زمادې قسم په هغه ذات تعالی وي چې د ده په ید کې زما نفس (روح)دی چې دابوبکر صدیق(رض) هغه ورځ له عمر څخه غوره وه».

له پورتني وینا څخه څرګنده شوه چې ابوبکر صدیق(رض)د زیاتې پوهې او فراست خاوند و، ده د بها دري او علم په وسیله د امت رهبري کوله، د خلکو ټولې شخړې یې داسلامي قانون په رڼا کې څیړلې د مسلمانانو په اشتباهي موضوعاتو کې یې په علمي توګه قناعت ورکاو په ورته متوجه مسئولیت کې یې د چا پروا نه ساتله او د چا له ملامتې څخه نه ویریده.

حضرت صدیق اکبر(رض) د رسول(ص)د ارشاد برابر چې امام ترمذي(رح)یې روایت نقل کړی دی: «جهاد به د قیامت تر ورځې پورې جاري وي» عملي کړ. لدې کبله ده جهاد دوامداره وساته، خپل هغه (تعهد)یې چې په ځمکه کې قرآن او سنت حاکم کړي پر ځای کړ هر راز ستونزې یې برداشت کړې د مسلمانانو ټولنیز حیثیت یې پر ځای کړ او د ورانکارو له فساده څخه یې لرې کړل.

صدیق اکبر(رض) خپلې ایمانداری مجبور کړ چې د رسول(ص) کړنلاره عملي کړي. که څه هم له مشکلاتو سره مخامخ شي او خلکو ته په ډاګه کړي چې جهاد کول یا د نورو دیني احکامو ساتنه په نبي-کریم(ص)پورې اړه نه لري بلکې د هر مسلمان ځانګړې مسئولیت دی ادا کول یې ضروري دي.

او هم یې مسلمانانو ته داسې دستور ورکړ چې په اسلام کې عبادت په بدن او مال پورې اړه لري، د دوی په منځ کې څه توپیر نشته زکات(مالي عبادت)په اسلام کې مهم رکن دی که یو مسلمان بدني عملونه وکړي خو د مالي عبادت له ادا کولو څخه انکار وکړي، اسلامي مسئولیت یې پوره کړی نه دی ځکه ور سره کول ضرور دي. تر څو چې د اسلام ټول احکام په پوره ډول عملي کړي.

هومره یې په خپل رعیت باندې زیاته وسیله(ترحم)دی: د باور خبره ده، که یو انسان د رسول(ص)په منل شویو خبرو او ارشاداتو کې څه زیاتې یا کمې وکړي له وخته سره به د عذاب ورکړي، لدې کبله صدیق اکبر(رض)دمخالفینو په مقابله کې سخته رویه اختیار کړه.

صدیق اکبر(رض) ژور موج وکړ چې د رسول(ص) له وفات څخه وروسته د مرتدو او لنې ټولې دي چې له مسلمانانو څخه بیلیږي او له منل شویو احکامو څخه انکار کوي. له بلې خوا د عربو قومي شخړې عام عادت دی، له ډیره وخته راهیسې له مسلمانانو سره په جګړو کې پاته شوي دي، ډیر خلک بیا په اسلام کې نوي شامل شوي دي ځینو خلکو بیا اسلام د زور په وسیله قبول کړی دی، له دې مرتدو ټولې په مرام ورسیږي مخالفتونه به ډیر او د ناورو خرابیو سبب به ګرځي.

صدیق اکبر(رض)په ډاګه کړه: ترڅو چې مسلمانان یو اتفاق وي ضرور به لوی قوت وي، په هره دنده کې به ستر بریالیتوبونه تر لاسه کوي، د دې قوت له کبله به د نړۍ هر ګوټ ته د اسلامي انقلاب څپې ورسیږي. په دې لړ کې د حضرت صدیق(رض)د اولې ورځې قول(خبره) چې بیهقي نقل کړې ده یادوو، صدیق اکبر(رض)په خپله اولنۍ خطبه کې وویل:

«د مسلمانانو له پاره دوه امیران درول روا نه دي، دا د دوی اوامرو او احکامو کې اختلاف پیدا کوي ټولنه یې بیلوي، د دوی په منځ کې اختلاف(تنازع)پیدا کوي دوی به د سنت لار پریږدي بدعت به ښکاره اختیار کړي فتنه به جوړه شي. دچا اصلاح به یې نه شي کیدلای».

څرګنده شوه چې صدیق اکبر (رضی الله عنه) د امت په یووالي زیات ټینګار کاوه ځکه ده په لوړ همت د اسلام او مسلمانانو د مخالفینو په مقابل کې د جهاد اعلان وکړ، مجاهدین یې سمبال کړل، د مرتدو مخه یې ونیوه د اسلام ټول قوانین یې په پوره ډول عملي کړل.

د صدیق اکبر (رضی الله عنه) دا فکر که څه هم خدائي وحي نه وه، خو د الهامي وحي شان یې دراود چې په بهادرۍ یې د اسلامي امت یووالي (وحدت) وساته په نتیجه کې یې زیات شمیر فتوحات (کامیابۍ) په برخه شول چې نن هم د تاریخ په یاد دي.

داولو دورو مسلمانانو یې ساري قرباني ورکړي دي او د وی یې شمیره ستونزې د قرآن د حاکمیت له پاره ګاللي دي، په لوړ همت یې د اسلام ځلانده لمر د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسولي دي، په هره بیخه کې یې د جهالت او ناپوهۍ توري تیارې له منځه وړي دي. د افغانستان مجاهدنو د دوی د بې ساری قربانیو درس تر لاسه کړی او د نن دور زورګیرو ظالمانو ته یې ښانې ماتو- ونکی ځواب ورکړ وحشیانو هیله لرله چې ښکلي وطن (افغانستان) د خپلو شومو پلانونو ښکار کړي نو دوی په تیر و لسو کالو کې د ننه د ماشومانو او سپین ږیرو په وینو د لوړو ژورو او لویو دښتو کانې بوټې سره کړل خو د افغان اتل ولس خپل ویاړمن سر ټیټ نه کړ، د وی د قرآن عظیم الشان د حاکمولو له پاره دحضرت رسول (ﷺ) او دهغه رښتینو ملګرو په لاره نیغ روان شول د مسلمانانو د اسلام د صدر یاد یې تازه کړ.

د افغانستان هر مسلمان اوسیدونکی له خپل سر او لاد او مال څخه د تیریدلو په بدرګه د نړۍ خور ظالم وحشتګر طاقت ته په سنګر کې ګوندله ووهله، د یونیم ملیون شهیدانو قطار یې روان کړ او روان به وي تر څو چې خپل وروستي هدف ته ورسیږي. بهادر مجاهدین د نړۍ هیڅ دول مادي قدرتونو په وړاندې تسلیم نه شول او د تاریخ مستقیمه لار یې ونیوله، د لوی خدای (ج) امداد ور سره ؤ، لس کلنه توره شپه یې د لمر ختو شیبو ته نژدې کړه

الله تعالی فرمایي:

«ای مؤمنانو! که تاسی د الله تعالی (د دین د مجاهدینو او پیروانو کومک) وکړئ الله تعالی به د تاسی امداد وکړي او ستاسي قدمو له به ثابت وګرځوي» محمد سوره ۱۷ آیت.

نوردي نو الله تعالی دمجاهدینو د دوی د پاکو او سپیڅلو احساساتو له کبله ټول مسلمانان په تیره بیا افغان مجاهدین دي د اسلامي خپلواکۍ په مرام ورسوي، په ګران افغانستان کې دې د آزادۍ او حریت بیرغ ورپوي !!!.

دوه تنه تنکي ځوانان چې د کابل د مستبد رژیم له نظامي دستګاه نه د مجاهدینو غیږ ته
پناه راوړي ده.

قاضی عزیزالله مجدی

بهشروع مذاکرات مستقیم مجاهدین با روسها جهاد مقدس نه تنها خاتمه نیافته بلکه مسیر خویش را در أذهان بین المللی میگشاید.

قربانی و ایثار فرزندان رشیدو قهرمان سنگر حق و یکتا پرستی در افغانستان زاده فطرت سایه خدا دادگی این ملت غیور و باشهامت است.

که هیچ وقتی در مقابل زور گویان و جابران سر تسلیم خم نکرده خصوصاً در دهه اخیر که سفاک ترین دشمن بشریت بخیال تسخیر آن بانیروی تا دندان مسلح ووحشیخود ارادیت این سر زمین را به مخاطره انداخت.

با وجود نداشتن نیروی سیاسی وحکومتی که همه قبلاً از جانب دشمن اشغال شده و منحل گردیده بود، به مقاومت دلیرانه بر خاست و از حق وحاکمیت کشور خویش چنان دفاع بعمل آوردند که همه خوابها و خیالهای دشمن خون آشام را به رؤیای محض مبدل گردانیدند.

با سپری گردیدن خون و شهادت اینک دشمن جهانخوار به اصل واقعیت تن در داده وبامجاهدین در مورد خروج نیروها یش از افغانستان بدور میز مذاکرات حاضر گردیده است. اگر چه قهرمان بدنام کمونیزم (گورباچف) باوجود ادعا های که از علمیت و پشتیبانی از جمهوریت دارد، ضمن سفر خود با راجیوی هندی اعلامیه مشترکی را جهت تداوم حمایت از رژیم بی بندوبار کابل را صادرنمودند.

و ضمن آن به همه معیارها و مقیاس های جمهوریت و علمیت خط بطلان کشیده شد اما دیری از آن نگذشته بود که طاقت روسها در میادین معرکه طعاق گردید بهاصلاح (آب گلو بچه زیر پای) حوصله را از دست داده بعوض اینکه نوکرش به انتظار مذاکرات مجاهدین دوطائف چشم براه مانده واین انتظار مرگبار را بکشه خود خواستار مذاکره مستقیم با مجاهدین گردیدند.

کهخود این موضوع بار ها از جانب مجاهدین از بد و مداخلت مستقیم روسها در أمور داخلی کشور عزیز پشنیهاد گردیدهبود.

اگر چه مذاکرات مستقیم روسها با هئیت محترم مجاهدین افغانستان ظاهراً نشان میدهد که روسها میخواهند خویشتن را از منجلاب افغانستان رهانیده و دیگر بحالت فضیحت بار خویش خاتمه دهند. به آن هم گفته میشود که هدف روسها از مذاکرات مستقیم با مجاهدین جهت زمینه سازی برای مذاکره مجاهدین و رژیم کابل میباشد ومنظور ایشان از چنین اقدامی دخیل گردیدن نوکران شان که قبلاً در خوان نعمت ایشان پرور انیده شده بودند بوده وأمید آنرا دارند که بعد از خروج قوای نظامی خود از کشور عمالی خود را به اریکهٔ

قدرت گذشته بروند.

مذاکرات مستقیم مجاهدین و روسها بهر نوع وشکلی که باشد در آن صد در صد اطمینان به ملحوظ پذیرفته شدن تقاضا های برحق مجاهدین از جانب روسهای متجاوز نیست. بلکه پیروزی بزرگی دیپلوماسی در صحنه سیاسی جهاد مقدس بحساب میرود.

و اقرار به اصل موضوع که طرفین درگیر در افغانستان صرف روسها و مجاهدین هستند معاهدات گذشته جینوا نشان میدهد که مردم آزادهٔ ما حریت پسند بوده با وصف بی وطنی ومهاجرت و درگیری در جنگ خانمان سوز وهزارها مشکلات روز افزون حیاتی تحت تأثیر هیچ کشور وقدرت خارجی نیجهاد مقدس وآزادگی وغرور وملی خویش را قرار نداده و راستی هم مسلمان زیسته اند و مسلمین در حالت نعمت دیانت ونعمت از سرچشمه فیض بار رسالت ﷺ سیراب گردیده و ثبات وپایمردی را ازدست نمیدهند. خوش بینی ما به مذاکرات جاری بین مجاهدین وروسها بدان جهت است که دشمن وجهانیان را متقاعد سازیم براینکه طرفین قضیه یعنی روسهای متجاوز ومجاهدینکه وارثین اصلی سرزمین افغانها هستند در صحنه سیاسی وبین‌المللی همچون صحنه‌نبرد شناخته شود که درصورت بوجود آوردن چنین روند سیاسی میتوان گفت که وطن ازافغانهای شهر مرد مسلمان است که از قدیم الایام آزاده زیسته اند و این روسهای متجاوز بودند که‌تقریباً ده سال قبل ازین روز توسط عمال خویش استقلال وحیثیت اسلامی این کشور را خدشه دار نموده و بالاخره بتاریخ ۶ جدی ۱۳۵۸ ه ش زمینه مداخلت مستقیم خویش را توسط نوکران کودتا چی خود فراهم نموده و در طول این مدت از هیچ نوع ظلم و بربریت و بی حرمتی به مقدسات اسلامی و عنعنات افغانی و حریت انسانی اشخاص وافراد جامعه افغانی دریغ‌نکرده اند.

مذاکرات مستقیم مجاهدین با روسها در مورد خاتمه اشغال افغانستان توسط قوای سرخ روس باز تابیجهاد مقدس ملت مسلمان افغانستان بوده بدون از روی کار آمدن چنین روندی هر نوع اقدام عاری از حقیقت نمیتوانند که در ساحه عمل پیاده گردیده و به درد و آلام ملت افغان خاتمه‌ببخشیده روسهای متجاوز از حالت منجلاب غرق شده رهائیده نمیتواند. همچنین مذاکرات مستقیم هیئت مجاهدین با روسهای متجاوز اراده جهادگران مؤمن ما رو برکود نه نهاده بلکه فعلاً صرف به جنبه های اولیه دیپلوماسی و سیاسی آن متمنی‌بوده اند زیرا که اگر در نشست فعلی مذاکرات ویا در زودترین فرصت از آن‌بخروج کامل قوای‌روس ازکشور اقدام نگردیده و موافقه هم باالفرض درین‌باره بدست نیاید برای مجاهدین غیور در صحنه نبرد شکست دشمن ایشان مرسی‌گردیده اگرروی‌میزموافقه نگردد در صحنهٔ نبرد افغانستان به گورستان روسها مبدل بوده همانند اسلافش استعمار تیره‌روز سیاه انگلیس که از تعداد بیست هزار عسکر متجاوز خویش صرف یکنفر با هیکل نیمه‌جان بدست آورده توانست. این هم‌دوچارپنجه‌های فولادین جهادگران ماخواهد گردید که‌هیچ عقل ومنطق به انتحار خویش حکم نمی‌دهد.

اینست فیصله نهائی ما با روسهای متجاوز ورنه راه معقول قضیه ونجات ازمنجلاب افغانستان برای متجاوزین روسی آنست که‌حق حاکمیت وتمامیت ارضی این کشور بخون غنوده را برسمیت شناخته بخروج نیروهای متجاوزخویش بدون وقفه وضیاع وقت ادامه دهد.

به‌امید پیروزی‌اسلام عزیز در سراسر جهان‌مرگ بر کمونیزم

پیوسته به گذشته

ترجمه ازاحمد رونده

اساسات حکومت اسلامی

از انجالیکه اساس جمهوریت غربی بر(حاکمیت‌ملی) بنیالگزاری شده‌است، لذازنانهم همچون مردانارکاندولت وحکومت میتوانند گشت واما درنظام ائتلافی بار گران سیاست عملی یعنی تعمیل و تأمین نظم ونسق حکومت بردوش‌زنان گذاشته نشده است وچون پارلمان (مجلس شوری) اراده ایست مشوره کن وانتخابی که رئیس‌حکومت راتعین مینماید وباو مشوره میدهد ، قانون وضع میکند ، پس اما برای این اداره (شوری) زنی به صفت رکن (عضو) میتواند انتخاب شد ؟ دراین مورد چه بهتر که بقضاوت وفیصله مشترک عابدان وفقها مراجعه شود معهذا به نظر وی که (مولانا گوهر رحمن) مولف(کتاب سیاست اسلامی) در پرتو اصول شریعت ابراز داشته اینستکه زن ازحق دادن مشوره شرعاً منع نگردیده است ودلیلی هم وجود ندارد که زن ازحقوق مشوره محروم شده وبمشوره اوعمل کردن ناروا و نا جایز باشد. هستند زنانیکه نسبت به بمردان بسیار زکی وذهین ، دانشمند و فقهی بوده واما بصورت عموم ذهانیت مردان نظربه زنان بیشتراست وبنابرعین‌وجه شهادت دوزن باگواهی یکمرد برابر گردیده است .

باساس نظر امام ابوحنیفه(رح)زنان باستثنای دعاوی حدود وقصاص در همه امور دیگر قاضی میتوانند شد باساس نظریه امام ابن جریر(رح) که شخص ثقه از علمای شیعه میباشد بشمول حدود و قصاص در همه موضوعات و مسایل تعین وانتخاب زن جایز است .

امام ابن حزم ظاهری ازبیست نفر زنی نام میبرد که درزمان اصحاب کرام(رض) فتوی میداند پس درحالیکه زن مفتی‌تعین میتواند شد به عضویت او در شورای ممانعتی نیست ، زیرا امور این اداره هم مشوره وفتوی دادن است . امور قانون گذاری و پالیسی سازی نیز قسمتی از فتوی است .

له بل لوری پوهه او ادراک د بهرنی واقعی نړی تول خصوصیات په ذهن کی نشی منعکس کولای یواځی د خارجی شیانو مفهوم او ماهیت ذهن ته نقلوی . په بله اصطلاح ذهن خارجی وجود د خپل ځانته نشی نقل کولای بلکی ماهیت ئی ذهنی قالب ته رسوی مثلاً : یو سړی میکروب پیژنی، په فعالیت ئی پوهیږی او د میکروب تصویر په ذهن کی را گرځولای شوای خو دا معلومات د میکروب خاصیت نلری اونه دا معلومات ضرر یا گته رسولای شوای په همدی اساس زموږ ادراک په هره تکاملی مرحله کی ثابت دی چی یو د بل تر څنگ په واقع کیدلو ئی په ذهن کی حرکت پیدا کیږی او هغه درک کوو . مثلا : موږ نطفه پیژنو ، جنین پیژنو ماشوم او بیا سړی پیژنو خو داسی نده چی زموږ فکر هم د نطفی څخه بیا تر سړی تغیر وخوری او تکامل وکړی بلکی په همدی بیلو بیلو معلوماتو دانسان په هکله پوره معلومات ترلاسه کیږی که زموږ فکر هم تکاملی حرکت ولرینو بیاخو به لومړنی معلومات د نورو په تر لاسه کولو هیر یدل حال دا چی که موږ د اورانیوم په عنصر پوه شو او د هغه خواص راته معلوم شی او د الفا، بیتا او گاما د وړانگو په ورکړه به یوه سپک عنصر (رادیوم) تبدیل شی وروسته بیا هغه د نورو وړانگو په بایللو په سروپو بدل شی نو ایا زموږ معلومات به هم ورسره تغیر خوری نه بلکی زموږ معلومات به مرحله په مرحله ور سره زیاتیږی نه دا چی هغه داسی د کمال په لور روان وی چی اوله مرحله پریږدی او د وهمه پیل کری، بلکی زموږ معلومات به د اورانیوم رادیوم او سروپو په هکله ځانته ځانته پیدا کیږی او دا به په ذهن کی ترتیب او پوره معلومات به په ذهنی حافظه کی ساتل کیږی .

مارکسستان د فکر او ادراک محرک بهرنی عوامل گنی لو څکه ذهنی تحول ور سره حتمی بولی مارکسستان وائی: هغه څه چی انسانی شعور او فکر مشخص کوی د هغه

نم

نخواهد رفت بر با

که در طوفان گردی

محیط زندن از یک ق

زصد دریای آب مر

دو بیتی

خدایا ابتلای بندگان چند
بخون غلطیدن پیر و جوان چند
عقاب ظلم را بشکن پر و بال
زدن کشتن درین امتحان چند

«اشک ها و خون ها»

دخطر په لار

موږ په روان یو د منزل داوږد سفر په لار
د تورو شپو په زړه کې پیل د سحر په لار
لاس یې آزاد موږ د تیارو غلو ته پړ، داکه وایي
زموږ ږه ژوند تول له یو مخ دی دخطر په لار

«منزلونه او منزلونه»

لند

درته حیرانه نن د
چې دې شړلي د
زما د وینو باران او
ځکه آسمان په ځمکه
سرې نۍ کال د برې
کاروان روان دی
خاونده بیا دې ماز
بچا هد دې کې گردنی
ته خوله ځایه وې س
مه تېیتوه دافغانانو
کلی مې سرو روسا
اوس به دغم ورځې

یغمان

خدایا بوی خون آید زیغمان
صدای روس دون آید زیغمان
بجای جوی و جویبار سیل خون است
زخون لاله گون آید زیغمان

«سیمای جهاد در رنگ عاشقانه»

...خیزد
...باداربچون ترگشت خاک ما
...ی از زمین ترنمی خیزد
...قطره مروارید می سازد
...ده یک گوهرنمی خیزد
" حدیث خون "

بهار آمد بیا سنبل بکاریم
ز بذر شهیدان گل بکاریم
سر قبر شهیدان گل چه باشد
به قبر شهیدان بلبل بکاریم
همه پروانه و بلبل بکاریم
" سپیدی "

دسروفساد

پچې ترڅو پورې جاري دغه فساد وي
هرافغان به يې له لاسه نامراد وي
څو د زورسرې کيږي رېږمرېږنشي
ټول هيواد به ساندې ساندې او فرياد وي
«د وينو مشالونه»

شیرین و فرهاد
ز نهر و بامیان تا قوت شاد
ز درواز و هری تا رستم آباد
ز منگل تا به بلخ و غزنی
همه افغان است و شیرین و فرهاد
" سمار جام درخشان عالم "

...دنيا ده
...روسانو سره پوځونه
...وري
...بند کړل بارانونه
...کال دی
...وحدت په لوري ځينه
...زديکر کړ
...مورچل ته ځينه
...رکوزي
...وجنگ سرونه
...انو رنگ کړ
...ل په بل کلي کالمه

د غړو جوړښت ندی بلکی د ټولنیز ژوند او اوضاع هغه څه دی چی په رښتیانی توګه ذهنی ژوند تنظیموی مارکسستان په بهرنی عواملو کی په ځانګړی ډول لغت چی مطلب یی دا فام او تفهیم وسایل دی مهمه ونډه ګڼی چی بشر فکری مرحلی ته رسوی هغوی وایی چی: د یوه شیز فکر د خارجی محرک په وسیله پیدا کیږی نو تر چی د لغت وسایل د محرک په عنوان پیدا نشی هیڅکله به انسان ته کوم فکر ور ونه ګرځی.

ستالین وایی: ویل کیږی چی فکر په روح کی مخته د ژبی او لغت له پیدایښت څخه پیدا کیږی او پرته د لغت له وسیلی څخه نشست کوی، خو یوه شی چی دا خبره سمه نده، د انسان د ذهن افکار چی هر څه وی امکان لری چی پرته له لغت څخه دی پیدا شی، لغت د فکر لپاره عینی واقعیت دی.

دا خبری د مارکسستانو دی چی فکر ته خارجی محرک ثابتوی نو چی کله بهرنی عوامل فکر پیدا کړی لازمی به د هغوی په تغیر فکر هم تغیر کوی خوا صلاً د مارکسستانو خبره له بیل څخه غلطه ده ځکه فکر یوازی د بهرنی چاپیریال انعکاس ندی. بلکی فکر د ذهن خپل فعالیت دی د مکالمی وسایل د افکارو د رد او بدل کولو لپاره وسیلی دی نه فکر جوړوونکی، له هدی کبله موږ لومړی فکر کوو او بیا د هغه د اظهار لپاره برابر الفاظ پیدا کوو خو چی د الفاظو په قالب کی ولویږی.

کله داسی هم پیښیږی چی موږ په یوه موضوع کی فکر کوو خو په بله موضوع کی خبری کوو همدا راز د منطق او ریاضی اصول ټول له عقل څخه را پیدا کیږی نه دا چی د چاپیریال له اوضاع سره تغیر خوری، خوانسان په خپله کولای شوای چی د چاپیریال په خوښتنه خپل فکر تنظیم کړی نه دا چی محیطی اخبار هغه مغیر کړی.

مارکسستان وایی چی فکر ذاتی تحول لری او دلیل یی دا ښیی چی انسانی ټولنه له لومړنی حالت څخه نن د فکری انکشاف دی مرحلی ته رسیدله ده چی د اتوم له زړه څخه خبری کوی یا د فضا په ارتوالی کی واټانونه لنډوی.

دا وینو خو دا د فکر داخلی خپل حرکت، تحول او تکامل ندی بلکی دا د حقایقو کشف او د غلطیو کمول دی چی د فکر کسبی او بهرنی انکشاف دی له دی امله ټول انسانان په فکری کمال کی یو ډول ندی او که دا په فکر کی د تکاملی حرکت نتیجه وایی نو بیا خو به د ټولو انسانانو فکری سطحه یو راز وه حال دا چی ځینی اقوام تجزیه کوی او ځینی د بایسکل سپرلی د تمدن انتها ګڼی.

مارکسستان په دی هکله وایی: د علومو د تکامل حرکت د فکر د دیالکتیکی حرکت په معنی دی چی فکر د وخت د تیریدلو په نتیجه کی تکامل کوی... د فکر تاریخ له کلی قوانینو سره سمون لری چی حرکت او تکامل کوی.

خو موږ پوهیږو چی هر علمی حقیقت لومړی یوه ساده فریضه وی چی دا فریضه د مختلفو کسانو د زده کړی رڼا ده او د پوهانو له خوا تجزیه، تحقیق او تجربه کیږی د تجربی په صورت کی په هغی فرضیی اطمنان زیاتیږی، شکونه په یقین بدلیږی او هغه فرضیه وروسته یو علمی قانون ګرځی د تجربی دقیق وسایل حقایق ښه لوڅوی نه دا چی کوم حرکت په فکر کی پیدا کوی.

د مکروبی اجسامو په هکله د پاستور نظریه په ګمان بیل شوه خو وروسته د دقیقو مشاهدو په لړ کی د نویو علمی وسایلو په واسطه تائید شوه او د یوه قانون په څیر پاته ده.

د ځمکی د جاذبی نظریه لومړی

ځل نیوټن ته د منې نه را لویدلو
څخه پیدا شو، نیوټن وویل دا قوه
چې منه یې ځمکې ته راواچوله ولې
به د سپوږمۍ کره په توازن کې نه
ساتي، همدا نظريه وه چې وروسته
له تجربو څخه په سماوي کرویاتو
کې د جاذبې د عمومیت د قانون
په ډول تائید شوه.

په سل ګونو نظريې له ساده
حالت څخه دوهمې مرحلې ته رسیدلې
دي چې نه بهرنۍ حقیقت تکامل
کړي دي او نه زموږ د فکري تکامل
نتیجه ده بلکې یوازې زموږ علمي
تصدیق د هغوی په برخه کې توپیر
کوي.

دیر امکان لري چې نظر یې
رښتینې نه وي او په پله مرحله کې
د رښتیا والي په ځای غلطي ثابتې شي
او بیا بله نظريه د هغې په ځای
پیدا شي خو په دوارو صورتونو کې
دیالکتیکي حرکت نه وي چې هلته
د تز او انتي تز د جګړې په نتیجه
کې حقایق لاسته راشي بلکې د خطا
ګانو کشف یا تعدیل او د نویو
حقایقو د زیانوالي کار دی. په هر
حال فکر او ادراک نه د محیط
زیږنده دي او نه د مادې نړۍ په
څیر تغیر کوي بلکې مستقل او ثابت
دي خو مارکسستان چې حقیقت
متکامل ګڼي، شعور او فکر ته په
حرکت قایل دي ورڅخه دوه هدفونه
لري.

۱ - دمطلق حقیقت نفی کول
څکه هغوی چې ټول حقایق متحول
ګڼي نو په هغه صورت کې به مطلق
حقیقت نه پیدا کیږي نو هغوی ته
به اسانه وي څو له ټولو غیر مادي
او میتا فزیکي حقایقو څخه منکر شي.

۲ - دمطلقې خطا نفی کول
څکه د یا لکتیک تیری غلطی ګانې
په مطلق ډول نه منې بلکې هغوی
په خپله مرحله کې حقیقت ګڼي.

خو داسې نه دي، حقیقت تل
حقیقت دي او خطا تل خطا. بله
خبره دا ده چې مارکسستانو دوی
مسئلې سره یو ځای کړي دي، هغوی
ذهني حقیقت او له ذهن څخه وتلی
حقیقت یو ګڼي خو موږ له ذهن
څخه په وتلي او له مادي څخه په
لوړ حقیقت باور لرو خو دا خبره د
دې معنی نلري چې که فرضاً ذهني
حقیقت متحول وي هم موږ یې نه
منو، نه بلکې معنی یې دا ده چې که
ذهني نړۍ متحوله وي، بیا هم یو
مستقل حقیقت شته چې هغه مطلق
او د تحول په چوکاټ کې ندی چې
دلته موږ او ایډیالستان هم سره
بیلیږو څکه هغوی(ایډیالستان)وایي:
واقعیت یوازې عبارت دی په ذهن
کې له موجود شوي حقیقت څخه
د هغوی په خیال که ذهني حقیقت
متغیر او متحول وي نو له ذهن څخه
بهر به هم ثابت او بې تغیره حقیقت
نه وي.

خو که موږ د ذهن او له هغه
څخه د بهر توپیر په ښه ډول وکړای
شو ای نو به له ذهن څخه بهر د
مستقل واقعیت په وجود باور پیدا
کړو نو بیا کولای شوای چې مطلق
حقیقت په بهر کې قبول کړو که
څه هم په مطلق ذهني حقیقت قایل
نشو.

نور بیا

د اسلام په رڼا کې

که رڼا وه پیروي د محمد (ص) وه
ګمنې نشته په جهان بد رڼا

دعبدالباری غیرت لیکنه او ټوله

په تېر پسې

په قرآنکریم کی دجهاد آیتونه

۱۶ - (وما جعله الله الا بشوی لکم و لتطمئن قلوبکم به و ما النصر الا من عندالله العزیز الحکیم) د آل عمران سورت ۱۶۲ - آیت

ترجمه او تفسیر : او نه دی کرځولی الله تعالی دا مدد او کومک ای مؤمنا نو د تاسو د پاره مګر د خوښی او خوشالی یو زیری تر څو تاسو په خپل جهاد کی ثابت قدم پاتی شی او ددی دپاره یی داکومک و کړ چه تاسو مطمئن او داډه اوسی او ددی څخه په ویره او هراس کی نشی چه ددښمن شمیر زیات اوستاسو کم دی کامیابی او نصرت ټول د پاک خدای د جانبه دی نو تاسو دا ګومان مه کوی چه کامیابی به دلښکر په ډېروالی او کثرت کی وی او یا به دوسلی په ډېروالي او ښه والي کی وی بلکه دا کوُمک خاص د خدای (ج) کومک دی نه د ملائکه وُ دی اوله د بل چا داد هغه خدای کومک دی چه هغه پاک ذات غالب او زورور او د بالغه حکمت خاوند دی او هر کار په خپل رسید لی حکمت سره پای ته رسوی.

۱۸ - (لیقطع طرفاً من الذین کفروااویکبتهم فینقلبو خائبین) د آل عمران سورت ۱۲۷ آیت

ترجمه او تفسیر : داتدبیراو پلان د دی د پاره و شو چه د دوی یوه ډله په بند او یا وژلو ...ه له منځه یوسی او د شرک او طاغوت یوه څنده وغورځوی او یا دوی په ماتی سره رسوا کړی اووېی شرموی نو دوی به په خپلو اهدافو اوآرزوګانو کی ناکام راشی او څه یی په لاس ورنشی خدای تعالی همداسی په بدر کی وکړل چه د کافرانو له مشرانو څخه یی ۷۰ تنه ووژل او همدا راز ۷۰ تنه یی په بند کی و لیول او خدای تعالی مسلمانانن په عزت او کافران یی په ذلت کی وګرځول.

۱۹ - (لیس لک من الامر شیئی او یتوب علیهم او یعذبهم فانهم ظالمون) د آل عمران سورت ۱۲۸ - آیت

ای د خدای رسوله د بندګانو په تدبیر کی هیڅ اثر نشته بلکه دا ټول پلانونه خدای تعالی ته هیڅ دی اوهرڅه دده پاک ذات په قدرت کی دی او ټول کارونه د خدای په لاس کی دی یا به دوی هلاکوی یا به یی په بند کی راولی او رسوا کوی به یی او یا په دوی باندی توبه و باسی که چیری دوی اسلام

راوړی او یا به دوی په عذاب کی واچوی که چیری دوی په کفر کی پاتی شی بیا نو دوی ظالمان دی چه د عذاب مستحق او ور دی .

۲۰ - (ولا تهنوا ولا تحزنوا و انتم الا علون ان کنتم مؤمنین) دآل عمران سورت ۱۳۹ - آیت

ترجمه او تفسیر : او نارمی سستی مه کوی په جهاد کی اوخپگان مه کوی په هغه څه چه په جهاد کی در ته پیښ شوی دی لکه ستاسو په شاکیدل او یا شهیدانیدل یا دغنیمت له لاسه ور کول او تاسو زورور او غالب یاست که چیری تاسو مؤمنان یاست لکه چه تاسو د احد په جگړه کی د ماتی او شکست سره مخا مخ شوی بیا نو د بدر په جنگ کی تاسو بری وگاته او میدان مویوور نو که چیری تاسو په حقیقی معنا او په رښتیا سره مؤمنان یا ست نو تا سو خپگا ن اوسستی مه کوی ځکه چه تاسو غالب او له تولو څخه لوړ او اوچت یاست که چیری غازیان شی هم ستا سو د پاره اجر شته او که چیری شهید ا ن شی هم په جنتو کی ستاسی ځای او مکان دی دوی به په د نیا کی مخ توری او په آخرت کی د دوزخ په اورونو کی سوزی او ستاسو د بری په باب پاک خدای فرمایلی دی (و ان جند نا هم الغالبون) او په رښتیا سره زموږ لښکر کامیاب او غالب دی

۲۱ - (ان یمسسکم قرح فقد مس القوم قرح مثله وتلک الا یام ند اولها بین الناس و لیعلم الله الذین آمنوا ویتخذ منکم شهدا و الله لا یحب الظالمین) د آل عمران سو رت ۱۴۰ - آیت

ترجمه او تفسیر : - که چیری تاسو ته ورسیدل وژنه یا ټپی کیدل او یا نور ربړونه او کړاوونه نو مشرکانو ته هم هغه څه ورسیدل چه تاسو ته ورسیدل د بدر په جگړه کی او دا ورځی موږ لکه د یوی خوا او کله د بلی خوا په گټه اړ وو کله به تاسو خوشاله کیږی او د و ی به خپه کیږی او کله به هم بالعکس وی او دا د پاک خدای یوه آز مو ینه او امتحان د ی دا کار پاک خدای ځکه کوی چه وگوری چه څوک په سختیو او مشکلاتو باندی صبر کوی اوخپل دوستان به وپیژنی او له نور څخه بی جلا کړی او ددی د پاره چی پاک خدای له تاسوڅخه شهیدان وگر- ځوی او دا لوی نعمت ور په برخه کړی او یاهم تاسو یو په بل شاهدان وگرځوی چه چا ندا کاری او جهاد کړی او چا نه دی کړی .

او خدای تعالی دوست نه گنی ظالمان ا و تیر ی کو و نکی او هغه منافقان چه داحد په جگړه په شاشول او د خدای له رسول څخه بیله لاره ونیوله .

۲۲ - (و لیمحص ا لله الذین آمنو ویمحق الکافرین) د آل عمران سورت ۱٤۱ - آیت

ترجمه او تفسیر : او د دی د پاره چه مؤمنان پاک کړی له گناوو څخه او هم د و ی له منافقانو څخه جلا کړی چه دا کا ر په مداوله او تکالیفو را وستلو سره کیدی شی او هم ددی د پاره چه کافران له منځه یوسی او ا ضرا ر او نقصانو نه ور - ورسوی .

۲۳ - (أم حسبتم ان تدخلوا الجنة و لما یعلم الله الذین جاهدوا منکم و یعلم الصابرین) د آل عمران سو ر ت ۱۴۲ - آیت .

ترجمه ا و تفسیر : آ یا تا سو گومان کوی چه له امتحان اوابتلاء پر ته به جنت ته ننو ز ی بلکه د ا گومان مه کو ی او د لته استفهام د انکار په توگه راغلی دی او مخاطب یی مؤمنان دی او ددی د پاره دا آزموینه او ابتلا ده چه الله تعالی هغه کسان معلوم کړی چه د ده په لاره کی جهاد کوی او په سختیو باندی صبر او استقامت کوی طبری په خپل تفسیر کی فرمایلی د ی : آ یا تا سو گومان کوی ای د خدای د رسول ملگرو او صحابه ؤ چه تاسو به پرته له آزموینی او ابتلا ء څخه جنت ته ننوزی او یا به د هغه پاک ذات کرامت ووینی پداسی حال کی چه تاسوپه جهاد او سختیو کی آزمویل شوی نه یاست او د خدای په لاره کی درد اوکړاونه وی در رسیدلی .

۲۴ - (و لقد کنتم تمنون الموت من قبل ان تلقوه فقد رایتموه و انتم تنظرون)
د آل عمران سورت ۱۴۳ - آیت

ترجمه او تفسیر : او په رښتیا سره چه تاسو د مرګ او شهادت آرزو درلوده او دا مخکی له دی څخه چه شهادت مزه وڅکی او سختی ئی دوینی او دا هغه چا ته ویل شوی چه په جګړه کی ئی حاضر نه وو او ویل یی چه کاش مونږ هم هلته وای او شهید شوی وای چه ستاسو ورونه په شهادت ورسیږی او تاسو هم د شهادت په شرف کی یاست نو تاسو ځانونه خلاص کول او خپل پیغمبر مو یوازی پرینښود کله چه دا خبره تیت شوه او ویل کیږی چه دا خبر شیطان خپره کړه چه محمد (ص) ووژل شو نو منافقانو وویل چه خبره داسی شوه راځی چه جګړه پریږدو او خپل لومړنی دین ته را وګرځو او یا هغه وخت ؤچه د خدای رسول د شهیدانو په منځ کی زخمی شوی ؤ ویل کیږی چه ځینی ماتی خوړونکی عبدالله بن ابی ته راغلل چه ابو سفیان ور ته امان ور کړی او ځینی نورو هم وتښتیدل بیا کله چه د پاک خدای رسول هغوی ملامتول چه تاسو ولی وتښتیدی نو دوی وویل چه موږ د تا د مرګ آوازه واوریده ژوند را باندی تریخ شو او تیښته مو وکړه یا نو ددوی د عذر د دفعی او نه منلو د پاره لاندنی آیت نازل شو .

۲۵ - (وما محمد الا رسول قدخلت من قبله الرسل افان مات او قتل انقلبتم علی اعقابکم و من ینقلب علی عقبیه فلن یضر الله شیاوسیجزی الله الشاکرین) د آل عمران سورت ۱۴۴ - آیت .

ترجمه او تفسیر : - او محمد بل څه نه دی مګر د خدای رسول دی او له ده څخه د مخه نور پیغمبران تیر شوی دی نو پخوانی رسولان هم ځینی په خپل مرګ سره وفات شوی او ځینی هم د خپل رسالت دادا کولو په نتیجه کی وژل شوی او شهیدان شوی دی .

نو که چیری دی مبارک وفات شی او یا په شهادت ورسیږی نو آیا تاسو به دخپل دین یعنی اسلام څخه وګرځئ اومرتد کیږی به اویا به جهاد پریږدی . څوک چه بیرته په شاشی او د اسلام دین پریږدی نو خدای تعالی ته څه ضرر نشی رسولی بلکه د دین په پرینښودو سره خپل ځان ته ضرر رسوی چه هغه د آخرت عذاب دی او خدای تعالی به فرمانبردارو ته ثواب ور په برخه کړی هغه چه په خپل دین ثابت اوسی او په شا نشی

۲۶ - (و ما کان لنفس ان تموت الا باذن الله کتاباً مؤجلاً و من یرد ثواب الدنیا نؤته منها و من یرد ثواب الاخرة نؤته منها و سنجزی الشاکرین) د آل عمران سورت ۱۴۵ - آیت .

ترجمه او تفسیر : - بیا خدای تعالی خبر ور کړ چه د هر چا دپاره ټاکلی اجل او وخت دی چه هغه تغیر نه مومی نو ویی فرمایل . نشته د نفس د پاره مرګ مګر د خدای په اراده او مشیت او خدای تعالی دا حکم په لوح محفوظ کی لیکلی دی نو دهر نفس د پاره ټاکلی نیټه ده چه له هغه څخه وړاندی والی او وروسته والی نشی راتلی له دی څخه غرض جهاد ته تشویق او هڅول او ددښمن سره په جګړه کی مخا مخ والی دی نوسستی او تنبلی ژوند نشی اوږدولی او شجاعت عمر نشی لنډولی ویره او دار تقدیر ته تغیر نشی ور کولی او انسان له ټاکلی مودی د مخه نشی مړ کیدی که څه هم په بی شمیره جګړو کی ګډون وکړی او که چیری څوک د دنیا اجر غواړی مونږ یی ور - ته ور کوو خو په آخرت کی برخه نلری .

داد هغه چا د پاره ویل شوی چه دغنیمت دپاره جګړه کوی خدای تعالی دا خبره روښانه کړه چه ددنیا حصول د خبطی او سپالی وړ نه دی ځکه چه دا فاجر او نیک سړی دواړو ته رسیږی او څوک چه د آخرت

ثواب غواړی موږ یې ور کوو او په پوره اندازه یې ور کوو لکه چه په دی باره کی پاک خدای په بل ځای کی فرمایلی دی (من کان یرید حرث الاخرة نزد له فی حرثه) که څوک د آخرت کښت غواړی موږ به زیات ور ته ور کوو . او موږ به فضل او رحمت ور کړو شکرگذارو ته د هغوی د شکر او عمل سره چه هغه جهادی عمل دی .

۲۷ (و کاین من نبی قاتل معه ربیون کثیر فما و هنوا لما اصابهم فی سبیل الله و ما ضعفو و ما استکانوا و الله یحب الصا-برین) د آل عمران سورت ۱٤٦ آیت.

ترجمه او تفسیر : - څومره د نبیانو څخه د خدای د کلمی د لوړتیا د پاره د نورو عالمانو او صالحانو په شمول جنگیدلی د طبری تفسیر وایی چه د (ربیون کثیر) څخه مراد ډیر خلک دی خو قتادة له حسن څخه روایت کوی چه له دی جلمی څخه مطلب ډیر عالمان دی نو دوی په دی جهاد کی ډیر په شهادت باندی ورسیدل خو د دوی هیمت تیت نشو او د وی سست نشول ځایی دا دم یاده کړو چه په حسینی تفسیر کی راغلی چه (ربیون) دلښکر-یانو په معنا دی چه کم تر کم زر اویا هم لس زره وی دوی ته په دی جهاد کی جراحتونه ورسیدل تکلیفونه ورسیدل ان د مرگ تر سرحد پوری خو د دوی په عزم کی څه خلل رانغی بلکه هماغسی کلک او محکم ولاړ وو او هیڅ ضعف او سستی یې په جهاد کی رانغله دوی د دیښمن په مخ کی ذلیل او سر ټیټی نشول دا هغو کسانو ته اشاره ده چه په جگړه کی یې ماتی خوړلی وه عبدالله بن ابی ته یې مراجعه کړی وه چه دوی ته ابوسفیان د امان خط ور کړی .

۲۸ - (و ما کان قولهم الا ان قالو اربنا اغفرلنا ذنوبنا و اسر افنا فی امر نا و ثبت اقدامنا و انصرنا علی القوم الکافرین) د آل عمران سورت ۱٤۷ - آیت .

ترجمه او تفسیر : دوی خلکو خبره له دی کبله چه په دین باندی محکم اوټینگ ولاړوو دا وه چه ای زموږ پروردگاره موږ ته ښښنه او مغفرت وکړه زموږ د تقصیر او گناه څخه ستا د اطاعت او عبادت په ادا کولو کی اوموږ ثابت قدم ولره ستا په جگړه کی او موږ ته بری را کړی د کفارو په قوم باندی .

۲۹ - (فا تا هم الله و حسن ثواب الاخرة و الله یحب المحسنین) د آل عمر ان سورت ۱٤۸ - آیت

ترجمه او تفسیر : نو خدا ی تعالی دوی ته هم د دنیا ثواب ور کړ چه د غنیمت لاس ته راوړل وو عزت او بری ؤ او په زمکه کی د دوی ټینگیدل وو او هم یې د آخرت ثواب ور کړ چه جنت ا و دهغه نعمتو نه وو د خدای تعالی رضا او بیا د هغه سره ملاقات ؤ او خدای تعالی هغه څوک دوست گڼی چه نیک عمله او نیت یې خالص وی د آخرت ثواب یې د (حسن) په کلمی سره خاص وگرځاوه د دي د پاره چه آخرت دوامدار او د فضیلت ژوند دی .

دنیا او آخرت یې د دی دپاره یاد کړی چه اصلی خالق ددواړو ته دا نسان توجه زیاته شی او مهم هم پاک ذات ته مراجعه ده او بس . لکه چه په دی باب یو فارسی بیت پراغلی دی

(من فارغم از هر دو کون مرا وصل تو بس
ای خالق هر دو کون بفریادم رس

زه له دواړو جهانو څخه فارغ یم او یوازی ستا وصل غواړم نوای د دواړو جهانو خالقه فریاد ته می ورسیږه او په دی کی می کامیاب کړه .

۳۰ - (یا ایها الذین آمنو ان تطیعوا الذین کفروا یردو کم علی اعقابکم فتنقلبو خاسرین) د آل عمران سورت ۱٤۹ آیت .

ترجمه او تفسیر : - ای مؤ-منانو که چیری تاسو د کافرانو

اطاعت و کړی دوی به تاسو بیرته
کفر ته واړوی او بیا به د زیان او
خساری سره مخا مخ شی او دا لوی
زیان دی چه ایمان په کفر باندی بدل
کړی ابن عباس ویلی دی چه دا
اشاره د منافقانو ته چه د احد په
جگړه کی یی ویل که چیری حضرت
محمد رښتیا پیغمبر وی نو ماتی به مو
نو خوړه تاسو بیرته خپلو وروڼو ته
وگرځی او هغو کسانو ته اشاره ده
چه عبدالله بن ابی ته ورغلل تر څو
دابی سفیان څخه امان ورته وغواړی

۳۱ - (بل الله مولاکم و هو خیر الناصرین) د آل عمران سورت ۱۵۰ - آیت .

ترجمه او تفسیر : - بلکه
د تاسو مددگار پاک خدای دی نه
دغه کافران نو ددوی اطاعت مه کوی
بلکه د خپل پروردگار اطاعت او متا-
بعت وکړی . او خدای تعالی غوره
او بهتر مدد گار دی او پرته له هغه
ذات څخه د بل چا کومک او مرسته
مه غواړی .

۳۲ - سنلقی فی قلوب الذین کفروا الرعب بما اشرکوا بالله مالم ینزل سلطانا و ما واهم النار و بئس مثوی الظالمین) د آل عمران سورت ۱۵۱ آیت

ترجمه او تفسیر : ژر ده چه مونږ د
کافرانو په زړونو کی ویره او داروا-
چوو . بلکه چه خدای تعالی د احد
په جگړه کی ددوی په زړونو کی
ویره واچوله اوله دی سره چه غالب
وو خوجگړی ته یی ادامه ورنکړی
کړی . مونږ به په دی سبب د دوی
په زړونو کی ویره واچوو چه دوی
مشرکان دی او د خدای تعالی سره
بی نوره باطل خدایان شریک کړی
عبادت ور ته کوی په داسی حال کی
چه دوی په دی کار باندی کوم
حجت او دلیل هم نلری او خدای
تعالی هم په دی باب کوم څیزنه دی
ور ته نازل کړی ددی کفارو ځای
دوزخ دی او دا جهنم د ظالمانو دپر
بد ځای دی دوی په دنیا کی په ویره
او رعب کی دی او په آخرت کی
په عذاب د دوزخ کی دی .

۳۳ - (ولقد صدقکم الله وعده اذتحسونهم باذنه حتی اذا فشلتم وتنازعتم فی الامر و عصیتم من بعد ما اراکم ما تحبون منکم من یرید الدنیا منکم ومن یرید الاخره ثم صرفکم عنهم لیبتلیکم و لقد عفا عنکم و الله ذو فضل علی المؤمنین) د آل عمران سورت ۱۵۲ - ایت

ترجمه او تفسیر : - او په رښتیا
سره خدای تعالی خپله وعده پوره
یعنی د تاسو سره یی مدد او کومک
وکړ دا ځکه چه تاسو صبر وکړ
ابن عباس (رض) وایی چه خدای تعالی
د خپل پیغمبر سره په هیڅ ځای کی
دومره کومک نه و کړی لکه چه د
احد په جگړه کی یی کړی و تاسو
دوی په اپکاره توگه وژل او په توره
موربیل او دا د خدای اراده وه چه
تاسو کامیاب کړی مگر تاسو سستی
وکړه او ضعیف شوی او اختلاف مو
سره وکړ هغه ټاکلی ځایونه مو
پریښودل او د عبدالله ابن جبیر څخه
مو مخالفت وکړ روایت دی چه
حضرت رسول اکرم (ص) پنځوس تنه
غیشی ویشتونکی د غرونو په سرونو
باندی ودرول او ور ته یی فرمایل
چه تاسو په همدی خپلو ځایونو باندی
اوسیږی ان تر دی که مونږ مرغانو
خوړ لو هم تاسو خپل ځایونه مه
پریږدی .

کله چه جگړه ونښته نو مشرکا-
نو تیښته اختیار کړه کله چه غیشو
ویشتونکی دا حالت ولید لوویی ویل
چه ژر شی چه غنیمت را ټول کړو
او راکوز شول د دوی مشر د لسو تنو
سره پاتی شو او بیا کفارو دا نور د
شا څخه وویشتل او شهیدان یی کړل

(نور بیا)

هغه ته هم د ټوپک غل نه و معلوم

حیات الله حلیم وردک

خمت اکا په کرس وخندل او په نصوارو تور غاښ یې په نیمه کنډانه خوله کې له ورایه و بریښیدل او داسې یې وښوده چې ان ډیر خوشحاله دی خت اکا خو چا هیڅ کله خوشحاله نه وو لیدلی دده به تل تندي گونځې وو او په شنوندو به ئې د نا رضایتي علایم ځلیدل خو هغه څه چې د ده به وربانديې تندي گونځې وو په هغه رازیې څوک نه پوهیدل څکه دی به د هر چا په غم غمژن وو. او داسې ورځ نه وه چه خمت اکا به د یو ځایه نه د یو ځای څخه یو څه نه وه اوریدلی او د خپل ځان سره به گډ وو د قضیې مثبت او منفي اړخونو ته به یې حکم ورکاوه او که به چاورته وویل پرېږده څه د بل غموته دغاړې ته اچولی دی دا موضوع په تا پورې څه اړه لري هغوی پوهیږي او کار ئې نو خمت اکا به تیره نه لیده چې د هغه د خولې سره یې ملگرې کړي او په سپکو سپرو به ورته لگیا شوه دا ته څه ډول بنیادم یې چه هیڅ فکر لري دچا ورگه غم او درد نه رسیږي هغوی خو هم انسانان دي یو ځل دا خپلې سترگې پټې کړه او په خپل ځان یې و گوره چې بیا حساب پورېدرشي.

نو په همدې لحاظ به خلکو خمت اکا عالم غمگین باله. خو دا چه نن هغه ولې خوشحاله دی کل وان ماما په چل ول خبره وربالدی تاو را تاو کړه او په دو کړو هغه نور هم خوشحاله کړ. تر څو چې معلومه کړي چې د خمت اکا خوشحالي د څه په په وجه ده. خمت اکا د خندا سره لاس په لاس وویل یاره اوس پوهه شوم چه په دنیا کې ښه او نیک صالح خلک هم پیدا کیږي او ټول یو مخ د بل ورکې ته نه دي ناست. خدای دې زموږ کلیوال شریف ته خیر ورکړي. څومره هوښیار با تدبیره او نیت په خیر سړی دي. یاره خو که هغه زموږ په کلي کې نه وي نو په پوهه شه چې کلی هم وران دی خو خدای (ج) د داسې خلکو ته لا توفیق ورکړي چې د نورو په ورانو او ویجاړو سره را ټول شي. او یو د خیرسر یې ور وتړي د بل په غم غمژن شي او هم په یوه نیمه اوښکه ور- باندې توئې کړي او که خوشحاله شي نو دی هم وربانده خوشحاله شي او یوه خوله خندا ورسره وکړي او هم خود پوه او هوښیارو خلکو په دې څه نه کیږي چې خپله پوهه او هوښیا- رې د یو کړ کیچ په حکله په کار

واچوی او حاصل ئی یو داسی شی را وباسی چی د نورو د حیرانی ورته خوله وازه پاته شی او سل آفرین او شاباش ورته ووایي .

نو خبره نوره نه اوږدوم هکله گل بداند دتادی خدای (ج) په نیکی مل شی . ته خبروی چی د صدو زوی خورا تکړه مجاهد ؤ . او سرییره په دی آرام او د ښی خولی څښتن هم دی او تر اوسه به ئی لکر کوم میوی ته هم لاآزار نه وی رسولی .

هوکی خمت آکا رښتیا هم د د صدو زوی تکړه مجاهد دی خو گوره د صدو آکا هغه زوی راته ښی چی د مرکز توپک ورله ورک شوی ؤ . هلکه صبر کوه تر مخ می مه ځغله همغه کیسه درته کوم غوږ ونیسه . گوره ستا که پام ؤ خو ځلی زموږ کلی ته د مجاهدینو گروپ راغی . هغوی خوران خو هم څه وکړی مجبور دی د خپل شی پلټنه وکړی نو که لنډ د صدو د زوی توپک چا غلا کړ او خپله خیته ئی ور باندی تناکه‌واړوله سبا نور هم داسی کارونه کوی او د دی دول فساد لمنه ورو ورو نوره هم پراخیږی د کفر سره مو سرو کار دي . کله به چی کلي ته گروپ را ښکاره شو د صدو زوي څخه به هم لاره ورکه شوه . تک ژیړ به اوښتی ؤ وج شوندان به ئی دی خوا ها خوا بندی وهلی . د هغه خو د پلار به

تول جایداد له توانه وتلی ده چی د توپک تر تاوان و وزی او که چیری مجاهدینو دا موضوع پریښو - دلای نو ته په خپله فکر وکړه چی دا کار [illegible] او [illegible] ؟ او [illegible] وراندی او وروسته لی وسنجوه .

نو لنډه دا چی پرون نه آبل پرون ماښام د مجاهدینو گروپ کلی ته راغی نو خدای (ج) شته چی کلیوال هم ویرمن [illegible] او د مجاهدینو قوما - ندان صاحب هم نور په نفس راغلی ؤ . او دا موضوع ئی نوره د کلیوالو غاړي ته ور واچوله او ورته ئی وویل چی نور موږ به دی موضوع باندی کوم کار او غرض نه لرو چی تاسی کلیوال سره را تول او په دی موضوع باندی غور وکړی . نو هغه ؤ چی کلیوال هم سره را تول شول او دکلی مسجد تول ور باندی ډک شو د موضوع په ارتباط خبری شروع شوی چا یو څه ویل او چا بل څه غبرول دیر سره وغږیدل خوخبری کومی مثبتی نقطی ته نه‌تللی اونوره هم‌داموضوع پسی پیچلی کیده (خمت ا کایوځل بیا دخبرو په منځ کی جنگ‌شو) او خدای خبر غل‌به هم دلته د کلیوالو په منځ کی داده ناست ؤ او دیری خبری به ئی هم پکی کړی وی اودا به لی هم خو ویلی وی دانبه کار نه دی توپک ور کړی . دجهاد مال دی . خدای (ج) به مو رسوا کړی . نصیب او

روزی به مونشی او . . . . . او !

شریف هم پدی خبره ملی د مسجد په یوه کنج کی ده وهلی وه چی تا به ویل دبل کلي مسافر دی او څوک ئی په مسجد کی نه پریږ دی . : ده چوپتیا او غلی توپ یو ځل تول کلیوال خپل ځان ته متوجه کړل

اود مسا فرینوله جملی‌څخه‌یوشریف ته مخ ور واړاوه او ورته ئی وویل شریف پدی موضوع خو تاهیڅ رنا وانه چوله او هیڅ‌دی هم ونه ویل . نه دي ښه غږ و کړ اونه دي دبدو شریف په خپل ځای زا لیغ شو غاړه ئی تازه کړه او په خپله شناوی ژیره لاس‌راتیر کړل . خلک تول، دده لور ته متوجه شول شریف په دیره ځیر کی سره په خبرو پیل و کړ : دا دومره شیی او ورځی تیر شوی هیڅ غږمی ونکړ . اوویل می ته مه کوه چی عالیجناب ! ! ځان ښوروی که نه یوځل کلی ته دمجا هدینو گروپ راغی بیاراغی او د صدو زوی ته‌ئی هم نه کتل‌چی بیچاره اوچی شوندی الوتلی ښه لور په لور ځغلي . او د جهاد څخه هم و تلی او و جود ئی دغمونو او اندیښنوپه بتی کی‌سوځی خودده په زړه‌درحم اوبه توی نشوی چی خپل خدای(ج) به سرحاضر کړی جهاد ته نظر و کړی حالاتو ته متوجی شی . اوتوپک ور کړی ماهم ځان نه ښورا وه . خو اوس مجبور هم چی ځان وښوروم او هغه سری

چي دا کار ئې کړی دی رسوا کړم شريف د هري خبري سره ده يوه يوه ليکوال ستر گوته په ځيره ځيره شوچي خدای خبر پهٔدی جمله کې بهٔلي غله ته هم په ځيره سره کتلي وی داخو متل دی چي(غل په غره کې‌نه ځا ـ ئيږی دغله په ږيره خس وی ځومره به وار خطا شوی هم وی) شر يف زياته کړه نو تاسي تول اوس ماته غوږ شي زهٔبه تاسي ته اوس په ډاگه سره ووايم چي‌دا عاليجناب ماته‌معلوم دی اوښه ئې پيژنم اوچيرته ئې چي توپک غلی کړی دی هغه ځای هم راته معلوم دی خوبيا هم دابه ډيره ناروا او رسوا خبره وی چي اوس د تاسو ټولو په مخ کې ورته اشاره کوم او نوم ئې اخلم اوورته وايم چي فلانيه دصدو د زوی توپک ور کړه دومره به و کړم چي تر سبا پوري بهٔبي‌ږوده ور کړم او بس .

نور نو که ستاسي خوښه وی ټول درځئ او په خپلو کورونو کې آرام بيده شی کهٔد شپې په هر چل چي ؤ دصدو دزوی توپک ور نکړ او ورته ونه سپاره نوزه پوهيږم چي څه ورسره وکړم . او په همدی تر تيب خلک په داسی حال کې چي‌دسبا پوښتطمه بی پهٔزړونو کی راپيداشوه د جومات څخه دخپلو کورنوپهٔلور روان‌شول . سهار شوی لانه ؤ چي‌د شپې چوپه چوپتيا پوځل د توپک پهٔډزو سره ماته شوه او کليوال ټول دهوب‌څخه را ويښ شول خو ډيره ژر معلومه شوه‌چي دادزی‌دصدو دزوی دتوپک دپيدا کيدلو زيري دی چي په نيمه شپه کې ئې کليوالوته خبر ور کړ.او توپک خوهسې د شپې لخوا دشريف د نا معلومه معلوماتو له ويری د دهغه د کور له در وازی څخه آخوا ور اچولی وو او په دی ترتيب‌ټول کلي د جنجال څخه خلاص شو . شريف ته خوهم دتوپک غل نه وو معلوم خو د تو پک پيدا کيدل د هغه د هوښياری او ځير کې‌زيږونده وه.

دکابل دملحد رژيم هغه عسکرچي دننگرهار په ولايت کې مجاهدينوته تسليم شوي

ليكونكى : ن حبيب الله



علوم القرآن ته يوه كتنه

الهى كتاب قرآنكريم

دقرآنكريم په هكله تر اوسه په زرگونو كتابونه اور..الى ليكل شوى اودقلم خاوندانو د خپل استعداد په اندازه پدى هكله ليكنى كړى دى او كه څوك دا كتابونه وگورى نو داسى فكر به وكړى چه لور نو د قرآنكريم دبيان اوپيژندنى لپاره دځه ليكنى حاجت نشته .

خوداسى نده څكه قرآنكريم دالله تعالى (ج) آخرى كتاب دى اودابه د تل لپاره ترڅو قيامت قائميږى د انسانانو پيريانانو پهتيره بيا مسلمانانو لپاره قانون اود دنيا اوآخرت دسعادت وسيله او مرجع وى اومعارف به بى خلاص نشى .

داهغه كتات دى چى په حضرت سيدالبشر محمد ﷺ نازل شوى دى له نازليدلو سره بى دفصاحت او بلاغت اربابانو او خاوندانو ته چلنج ورکړ چى دقرآن په شان دې لږترلږه درى آيته جوړ كړى اماهغوى ترينه عاجز شول او همداسى به دتل لپاره ترينه عاجز وى .

قرآنكريم هغه حجةالبالغه دى چى زموږ د د ين دعقايدو ، عباداتو ، حكمو ، احكامو ، آدابو ، اخلاقو قصصو ، مواعظو اونورو علومو كى دتولو خلكو لپاره په دنيا او آخرت كى دهدايت او سعادت منبع ده .

قرآنكريم هغه الهى منشور دى چه له حضرت آدم عليه‌السلام نه نيولى ترحضرت محمد ﷺ پورى چى څومره كتابونه نازل شوى دهغو خلاصه پكى موجوده ده .

داكتاب د عالم بشريت لپاره يو قانون اولارښوونكى دى چى دهغوى تول مشكلات اولارښوونه دهمدى مبارك قانون په رڼا كى حل كيږى ، په سياسى ، اجتماعى ، ادارى ، ثقافتى او نورو برخوكى پوره اووړانه قوانين لرى .

قرآنكريم هغه الهى روښانه ډيوه ده چى په پاكه عقيده ، شريعت او اخلاقو محتوى ده ، اود تولنى نه هر ډول ظلم ، مطلق العنانى ، جهل بى‌عدالتى ، فساد اوضرردفع اودتولنى دوگړو په مينځ كى ښه علايق ټينگوى اولكه چى موږ وويل داتول په هغى پاكى عقيدى بنا' دى چى انسان ډير لوړ مقام ته رسوى اود ترغيب او ترهيب په اسلوبو بشر په مستقيمه لاره روالوى .

قرآنكريم دهغو جاهلو او كوچى عربو په مينځ كى علايق ټينگ كړل الفت بى پكى واچاوه او هغوى بى سره وروڼه وگرځول چى جهالت او ظلم بى په تاريخ كى سارې نلرى چى دهغوى له جملى څخه داوس او خزرج قبيلى هم وى ، چى دڅينو مورخينو دقول مطابق يوسل اوشل كالو پدى بى سره لرله .

داهغه مبين كتاب دى چى انسانيت له تيارو اوظلمتونو نه خلاصوى او روښنايى او مستقيمى لارى ته بى هدايت كوى الله تعالى (ج) فرمايى :

قد جاءکم من الله نور و کتاب مبین یهدی به الله من اتبع رضوانه سبل السلام و یخرجهم من الظلمات الی النور باذنه و یهدیهم الی صراط مستقیم - المائده

ترجمه : په تحقیق سره راغلی دی تاسو ته له طرفه دالله(ج) رڼا او کتاب بیانوونکی چی لاره ښیی خدای (ج) په هغه کتاب هغه چاته چه تابعداری کوی درضامندی‌دده لاری دسلامتیا اوباسی دوی له تیارو (دجهل) نه رڼا (علم) ته په اراده خپله سره او لاره ښیی دوی ته هغی سمی‌لاری‌ته .

داکتاب چی دحضرت محمد مصطفی ﷺ په نبوت روښانه دلیل دی په هره زمانه اوځای کی دتطبیق وړاو انسانان اونور عالمیان به ددی‌مبارک کتاب تعلیماتو ته محتاج وی اود هغوی دنیکمرغی اسباب به رامینځ ته کوی .

دالله تعالی (ج) . په پخوانیو کتابونو کی ځینی تحریفونه شوی لیکن د قرانکریم د حفاظت وعده په خپله الله تعالی(ج) کریده .

الله تعالی (ج) فرمایی :

انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحفظون .

ترجمه : بیشکه موږ نازل کریدی ذکر (قرآنکریم) او بیشکه موږ ده لره ساتونکی یو .

احمد شوقی وایی :

جاء النبیون بالایات فانصرمت
وجئتنا بکتاب غیر منصرم
آیاته کلما طال المدی
یزینهن جمال العتق والقدم

ترجمه : نبیانو (علیهم الصلوة والسلام خپلوامتوته) له داسی‌معجزو سره راغلو چی له دوی سره ولاړی تا (محمدعلیه‌الصلوة والسلم)! موږته له داسی کتاب(معجزی) سره راغلی چی هغه تلونکی نه ده .

هروخت چی دده په آیاتو کی نظر زیاتوی دوی زیات جمال ښکاروی اودخلکو په زړو کی قبولی پیداکوي نو که په زرګونو لیکنی نوری هم وشی او همداسی جاری وی دقرآنکریم دکلماتو شرح او توضیح به پای ته ونه رسیږی .

الله تعالی (ج) فرمایی :

قل لو کان البحر مدادا لکلمات ربی لنفد البحر قبل ان تنفد کلمات ربی ولوجئنا بمثله مددا - الکهف

ترجمه : ووایه ته که چیرته دریاب سیاهی شی دپاره دلیکلو دکلمو درب زما ، خلاص به شی دریاب پخوا ددی نه چی خلاص شی کلمی درب زما اګر که راوړو موږ په مثل د دریاب نوره سیاهی .

خو ځر لګه چی هدی کتاب ځان پوهول او وربااندی عمل کول یو لازمی وجیبه ده چی دینوی اواخروی نجات پکی نغښتی دی اوپه همدی واسطه له خپل رب سره ارتباط پیدا کوی اودهغه قرب حاصلوی .

او الله تعالی (ج) له هغو کسانو سره چی دوی په قرآنکریم پوهیدلی ایمان یی وربااندی راوړی او عمل یی کړی وعده کړی چی دوی به په ځمکه کی خلیفه ګرځوی اوپه ورځ دآخرت به جنتوله ورکوی .

الله تعالی (ج) فرمایی :

وعدالله الذین آمنو منکم وعملواالصلحت لیستخلفنهم فی الارض کما استخلف الذین من قبلهم و لیمکنن لهم دینهم الذی ارتضی لهم و لیبدلنهم بعد خوفهم امنا یعبدو ننی لا یشرکون بی شیئا النور

ترجمه: وعده کړی الله له هغو کسانو سره چی ایمان یی راوړی له تاسی نه او عملونه یی کریدی‌د نیکی چی خامخا به خلیفه ګان کړی دوی په ځمکه کی‌لکه‌چی خلیفګان کړی‌یی‌وو هغه کسان چی پخواله‌دوی نه‌وو او خامخا به ثابت کړی دوی لره دین ددوی هغه دین چی غوره کړی یی دی الله دوی لره او خامخا به بدل

ورکړي دوی لره وروسته له ویری د دوی نه امن ، عبادت به کوی دوی زما شریک به نه پیداکوی دوی زما سره هیڅ شی »

حضرت محمد ﷺ ترټولو نه زیات په قرآنکریم پوهیدو اوپیادده پواسطه صحابه کرام رضی الله عنهم وو ، چې د قرآنکریم په هرهدایت یې عمل کاوه اوهغه دتطبیق لپاره هروول سرښندنی ته چمتو وو .

همدا وجه وه چې الله تعالی (ج) دوی بهتره د ټولو امتونو او د همدی وعدی مصداق یې وګرځول .

په اوسنو حالاتو کی چې دافغانستان باتور ولس د همدی قرآن مجید په حکم داسلام او انسانیت د دښمنانو (روسانو) اود هغوی تالی څټوافغانانو روسانو په ضد په وسله وال جهاد بوخت دی، دقلم په خاوندانو دا لازمه ده لکه چې عملی جهاد جاری ساتلی همداسی قلم هم کرار پرنږدی اود خپل مسلمان ولس دقرآنی تعلیما تو دزده کړی په زیاتولو کی برخه واخلی الله تعالی (ج) فرمائی :

ان هذا القرآن [illegible] هی اقوم ویبشر المؤمنین الذین یعملون الصلحت ان لهم اجرا کبیرا بنی اسرائیل

ترجمه : بیشکه چې دا قرآن لاره ښیی هغی طریقی ته چې هغه ډیره سمه ده اوزیری ورکوی هغومؤمنانو ته چې عمل کوی د نیکو پدی چې بیشکه دی دوی لره اجر لوی .

او لکه چې الله (ج) ددی کتاب په برکت زموږ د مجاهدینو په لاس دی غټ کفری اومادی طاقت ته شکست او ماتې ورکړه ، او زموږ اسلامی انقلاب د کامیابۍ پړاو ته نږدی دی همداشان به زموږ آخرنی بریالیتوب نه او داسلامی انقلاب ساتنه د قرآنکریم په ارشاداتو عمل کول وی اوبس .

نو په همدی ملحوظ ماهم خپل ګډ ما ت قلم را وا خیست تر څو د علوم القرآن دمباحثو لکه: دقرآن معنی ضرورت ، نزول ، ترتیب ، جمع کتابت ، قرائت ، تفسیر ، اعجاز ناسخ منسوخ او داسی نور څه ناڅه ولیکم .

له الله تعالی (ج) نه توفیق غواړم ترڅو دالیک عملی بوره کړم او د ګنی ورشی او زما تقصیر راوبښی . قرآنکریم همیشه زموږ لپاره دهدایت منبع د صدور شفاء او د اخلاقواحوالو او ار واحو سرلی وګرځوی او په خپل فضل سره له موږ نه راضی شی آمین

علوم القرآن معنی :

دعلوم القرآن د تعریف او توضیح په هکله علماء کرامو په هر اړخیزه توګه سره تحقیق کړی او دا مرکب اضافی یې په ډیر تفصیل سره سرچپه کړی چې زه یې مختصراً لیکم :

(۱) علوم: جمع دعلم ده اوعلم په لغت کی : مصدر دی او مرادف د فهم یې معرفت او په بوه رأیه دجزم مرادف هم دی .

د حکما ؤ په نظر : (العلم)صورة الشی الحاصلة فی العقل أو : حصول الصورة فی العقل أو : تعلق النفس بالشئی علی جهة انکشا فه .

یعنی علم صورت دیوه شی دی چه حاصل شی په عقل کی او یا حصول د صورت دی په عقل کی اویا تعلق د نفس دی په یوه شی پوری دهغه دانکشاف لپاره.

د متکلمینو په نظر: (العلم) «**هانه صفة یتجلی بها الا مر لمن قامت به** »

یعنی علم یوصفت دی چې روښانه کیږی په ده یوشی هغه چاته چې هغه شی تعلق ورسره ونیسی .

شرع عام تعریف : دعلم اطلاق دالله تعالی (ج) د هغو آیاتو او د هغو افعا لو چه په بندګانو او مخلوقاتو پوری تعلق نیسی په معرفت کیږی .

امام غزالی رحمةالله علیه په خپل احیاء العلوم کی وایی :

«په تحقیق سره دعلم اطلاق پدی کیده

چې علم عبارت دی له معرفت دالله تعالی (ج) معرفت د آیاتو دده او معرفت د افعالو د الله تعالی (ج) چې له بندګانو او مخلوقاتو سره تعلق نیسي وروسته پدې تعریف کې تصرف وشو آن تردی چې فقهی مناظری ته هم علم وویل شو .

علم د تدوین او فن له نظره :

دعلوم القرآن دفن دعلماؤ له نظره علم په اصطلاح کې: هغو منضبطو او مرتبو معلوماتو ته وایي چې په یوه جهت پوری اړه ولری، پدی معنی چې که په وحدت د موضوع کې منضبط وی او که په وحدت دغایې او هدف کې یې جهت یووی . لکه څوک چې وایي « **تعلمت علماً من العلوم و موضوع العلم کذا** » یعنی یو علم می زده کړ چې موضوع یې داسې وه .

۲ ـ دقرآن لفظ :

الله تعالی (ج) دخپل کتاب اووحی لپاره نوی نومونه انتخاب کړل چې د عربو له هغو تسمیو سره مخالف وو کوم چې به یې خپل کلام ور باندی یاداوه ، او الله تعالی (ج) په تسمیه کې دتسمې دقواعدو او اشتقاق سم مراعات شوی.

د قرآنکریم دوه نومونه ډیر مشهور دی : یو «الکتاب» بل « القرآن» دی او په الکتاب سره یې څکه تسمیه شوی چې کتاب اشاره ده دقرآنکریم جمع کولو ته په سطورو (لیکو) کې او هم دارنګه په قرآن کې اشاره ده حفظ کولو د قرآن ته په صدورو کې څکه چې قران مصدر دقرائت دی او په قرائت کې استحضار دی .

نو قرآنکریم لکه نور کتابونه یواځې په لیکنو کې ندی ساتل شوی بلکه په صدورو کې حفظ دی
پدی دوو نومو کې قرآن زیات مشهور او استعمال یې زیات ؤ ، لودا وجه ده چې په القرآن یادیږی .

قرآن : پدی لفظ کې مختلفی نظریې دی : امام شافعی رحمة الله علیه وایي چې لفظ دقرآن نه مهموز دی اونه مشتق دی بلکه مرتجل دی یعنی له ابتداء نه داعلم او نوم الهی کلام دی ، چې په رسول الله ﷺ نازل شوی دی لکه تورات او انجیل :

فراء وایي : چې قرآن له «قرائنو» څخه مشتق دی او قرائن جمعه د قرینې ده اوآیاتونه یوله بله مشابهت لری نو څنې په څینو نورو قرینه دی.
داواضح خبره ده چې نون په «قرائن» کې اصلی دی .

څینی علماء لکه اشهری وایي قرآن مشتق دی له (**قرن الشی بالشی**) چه (قرن) پیوستون ته وایي نو د قرآن آیاتونه او سورتونه هم سره پیوسته دی .

خوهغه څوک چې قرآن مهموز نه بولی هغه له قواعدو دلغت او اشتقاق نه لری دی .

او څنی علماء لکه زجاج وایي : قرآن مهموز دی په وزن د «فعلان» مشتق دی له «قرأ» نه چې په معنی د جمع دی لکه چې ویل کیږی « **قرءالماء فی الحوض** » نو قرآنکریم هم دپخوانیو کتابونو جمع د ثمراتو ده .

اوحیانی وایي : قرآن مهموز مصدر دی او په وزن د «غفران» چې له «قرأ» نه مشتق دی په معنی د« تلا » دی نو پدی مقروء مسمی شو ، دا له جملی دتسمیې دمفعول په مصدر دی .
او دا قول مختار او مرجع دی الله تعالی (ج) فرمایي :

ان علینا جمعه وقرآنه فاذا قراناه فاتبع قرانه

نور بیا

«داورترانې» **داسې ایمان ته سلام** دژوند شعرونه»

سلام سلام دی بیا سلام داسې افغان ته زما
د داسې خاورې هر یو چې اوقهرمان ته زما
چې په حرمت دخپلې خاورې سر ښندنې کوي
داسې زلمو، داسې پښتو، داسې ایمان ته سلام

دا زما لپاره لوی ویاړ دی چه یوه ستر گه او دواړه لاسونه مې د خدای (ج) په لاره کې قرباني کړل

محترمو لوستونکو ،ونږ په دی گنه کی ستاسوپام دیوه ننگیالی مجاهد د هوی داسی خاطری ته را گر ځوو چی زموږ د ویاړلی جهاد د و یاړلی تاریخ په زرینو پاڼو کی به دتل لپاره ثبت وی .

مجاهد ورور سعید الله د حبیب الله زوی دغزنی ولایت دقره باغ دولسو- الی دنیازی د کلی اوسیدونکی چه تر پنځم ټولگی پوری یی دخپلی سیمی په ښوونځی کی ز ده کړه کړی ده اودغویی د توری کو دتا ځخه را پدی خوا د ایمان دپخی جذبی او د اسلام د پا کی مینی له مخی دمجا- هدینو په لیکو کی د یوه زړور او ننگیالی مجاهد په توگه و درید او د مولوی عبدالرحمن ترقوماندی لاندی یی د یوه صابر او پرهیز گار مجاهد په توگه تبارز وکړ .

مجاهد ورور سعیدالله په ډیروعملیا-

تو کی برخه اخستی او دښمن ته یی غاښ ماتوو نکی گذارونه ور کړی په مقدس جهاد کی یی وظیفه استحام « د ماین خښول او ماین ایستل » وو او په پوره ایماندا ری سره یی خپله دنده سرته رسوله .

مجاهد سعیدالله په ډیرو عملیاتو کی برخه اخستی ده چی د هغو دجملی ځخه دده دیوه وروستی عملیات خاطره چه دده پخپله بیان کړی ده تاسو ته وړاندی کوو !

ځرنگه چه زما دنده په جهاد کی ماین ایستل او ماین خښول وُو د ۱۳۶۵ کال دژمی په میاشت کی د تیری کولکو روسانو او د هغوی د گوډا گیانو یو پوځی کاروان چه د کابل کندهار په لویه لاره روان ؤ مادخپلی مقدسی دندی په وجه یوځه ماینونه سړک ته یو وړل او هلته ،ی ددوی دلیاری په مختلفو ځایوا و کی ځای په ځای کړل او زه په لیری په یوه موضع کی کیناستم او ددور- بین په وسیله می دوی ځارل کله چه د دښمن پوځی کاروان را ورسید دهغوی ځخه شپږ ټانکونه تیر شول لیکن ماینونه ونه چاودل خو چی د الیری کونکو روسانو او وم ټانک را ورسید د لوی خدای (ج) په مرسته په له مړی ماین باندی په هوا شواو لمبی ورځخه پورته شوی په هغی پسی دوهم ټانک والوت خوپه دی وخت کی پاتی کاروان ودرید او دریم مین یی کشف کړ ، یو ټانک د امنیت په تو گه و درید اوپاتی کاروان ته یی لاره خلاصه کړه . کاروان تیرشو هغوی یو ماین همداشان پریښی و ، خو دهغه شاوخوا یی دپرسونل ضد پرماینونه فرش کړی وه . کله چه ددوی د کاروان وروستی برخه تیره شوه نو یوه شیبه وروسته

له بری خوا ځخه یورعیتی سرویس را-
غی کله چی موږ و لید اول .و غې
وربانډی وکړوروسته مولاسونه ورته

و.ښورول او نږدی ور غلو هغوی
موټر ودراوه او موږ کیسه ورته‌یيان
کړه پدی وخت کی د خپلی دندی
په وجه دماین خنسی کولو په حال
کی وم اوخاوری .ی ور ځخه لیری
کولی چه ناځاپه یو درز شو . نورزه
پوه نه‌شوم چه څه وشول وروسته
زما هغو دری نورو ورونو چه دامنیت
په خاطر را سره تللی ؤ و زه‌ابادینی
ته بو تلم او هلته یی یوه عادی
کلینیک کی پانسمان کړم .

ليابی دی ځی نه کویټی ته‌بوتلم
او هلته یی دسعودی عربستان د سره
صلیب په روغتون کی بستر کړم ده
څه هم زه تر پنځلسو ور ځو هیڅ نه
پوهیدم . خو کله‌چه‌په‌هوش کی‌راغلم
اوو.ی کتل چی‌یوه ستر گه‌او ددواړو
لاسونو پنجی.ی نشته او پښی .ی
هم تپی شوی وې .

لند ه دا چی اوه میاشتی .ی
په درمل او تداوی په نوموړی
روغتون کی تیری شوی خود خدای
(ج)په فضل زماعقیده کلکه او احسا-
سات .ی نور هم را وپاریدل که‌څه
هم زه اوس نه تو پک او نه چاقه
گرځولی شم . خوغواړم چه پاتی بدن

.ی هم دمحمدی(ص)شریعت دپلی کیدو
او پروطن لی د شیطاناو بی ایمانه
غلیم تر ماتی پوری لکه دنورو سرب-
ښ‌ږومجاهدینو په شان‌قربان کړم‌اودا
زما لپاره ستر ویاړ دی چه یوه سترگه
او دواړه لاسونه .ی د خدای(ج) په
لار کی قربان شول . اودازمایوازینی

هیله ده چی د افغانستان ټول مسلمان
ورونه یو بل ته د ورورۍ لاس ور
کړی او دنفاق زنځیرونه مات کړی
ترڅو په افغانستان کی یو اسلامی
او خپل وا کی حکومت مینځ ته
راشی .

دافغانستان مومن ملت دبی شمیره قربانیو په لړکی نور هم غواړی چی خپل اولادونه دسنگر تربیه ورکړی

دعبدالباری غیرت تحقیق اوتتبع

په اسلام کې جهاد

په مدینه منوره کی د جهاد دولونه په داسی توگه بشپړ شول چه :

الف : لومړی خدای تعالی(ج) مسلمانانو ته وویل چه دکفارو سره په توره جهاد وکړی خدای تعالی فرمایلی .

اذن للذین یقاتلون بانهم ظلموا وان الله علی لنصر هم لقدیر الذین اخرجوامن دیار هم بغیر حق الا ان یقولوا ربناالله ولو لا دفع الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع وبیع وصلوات ومساجد یذکر فیهااسم الله کثیرا و ینصرن الله من ینصره ، ان الله لقوی عزیز)۳۹-۴۰- ایتونه د حج سورت.

ژباړه. اجازه شوی د هغه چا د پاره چه قتال کوی په دی چه په دوی باندې ظلم شوی او په رښتیا سره خدای تعالی ددوی په کومک باندی قادر دی. هغه کسان چه دوی له کورو نو څخه پر ته له حقه ایستل شوی دوی په دې باندې ایستل شوی چه دوی به ویل چه زموږ پروردگار الله دی که چیری خدای تعالی یو په بل نه دفع کولی نو کلیسا گانی . د رمسالو نه او جوما تو نه به ړنگ شوی وی هغه چه د خدای تعالی زیات یادپکی کېږی. خدای چه وغواړی دهغه چا سره کومک کوی چه دده کومک کوی (یعنی دخدای ددین سره کومک کوی)

په تحقیق سره الله تعالی قوی او د عزت خاوند دی .

دمکی مشرکانو به تل دخدای د رسول یاران ځورول وهل به یی او تپی کول به یی. دوی به دخدای رسول ته له دې ارخه شکایت کاوه ده مبارک به ورته ویل چه: تاسو به دې کړاوونو باندې صبر وکړی څکه چه ماته د قتال امر نه دی شوی ، ترڅو د خدای رسول هجرت وکړ او بیا پورتنی آیت نازل شو . کله چه د خدای رسول له مکی څخه وایستل شو نو ابوبکر (رض) وویل چه: په خدای چه هلا کیږو. بیا خدای تعالی د غه آیت نازل کړ (اذ ن للذ ین یقاتلون ....) بیا حضرت ابوبکر(رض) و فرمایل چه زه پوه شوم چه په قتال سره امر شوی دی امام شافعی صاحب فرمایی : الله تعالی (ج) خپل رسول ته په مهاجرت سره امر وکړ چه مدینی ته ولاړ شی خو په جهاد سره یی ورته امر نه وکړی چه بیا وروسته په جهاد سره هم امر ورته وشو. په بل ځای کی وایی چه: دوی ته په یو دددوو جوادو امر وشو:

۱ - په هجرت سره چه د مشرکانو سره به قتال نکوی ۲ - امر وشو چه د مشرکانو سره به قتال هم کوی او پورتنی مبارک آیت نازل شو ددوی سره قتال جایز وگرځول شو او په کتاب کی ښه روښانه شو .

۱- د نزول الباب د وا حدی کتاب ص ۳۱۹ .

۲- تفسیری طبری ج ۲۷ ص ۲۲۲

د ابن کثیر تفسیر - ج ۳ ص ۲۲۵ قرطبی تفسیر-ج ۱۲ ص ٦٨ زادالمعاد ج ۲ ص ۵۷ - ۳- کتاب الام ج ٤ ص ٨٤

این قسم په خپل کتاب (زادالمعاد) کی ویلی دی: خدای تعالی د بعثت له وخت څخه دهته په جهاد سره امر کړی ؤ. لکه چه پاک خدای فرمایی (ولو شئنا لبعثنا فی کل قریة نذیراً فلا تطع الکافرین وجاهدهم به جهاداً کبیراً) که چیری موږ غوښتی نوهر کلی ته مو ویرونکی لیږلی ؤ. پس ته دکافرانو اطاعت مه کوه .اولوی جهاد ورسره وکړه نوداپورتنی سورتمکی دی چه دکفارو سره دحجت، بیان او دقرآن په تبلیغولو سره د جهاد امرشوی دی.

نو ښایی څرګنده کړو چه دکفارو سره جهاد دنفس دجهاد تابع دی لکه چه نبی کریم صلی الله علیه و سلم فرمایی : چه مجاهد هغه څوک دی چه دخپل نفس سره د خدای په ذات کی جهاد کوی او مهاجر هغه څوک دی چه د خدای دمنهیاتو څخه ځان ژغوری. نو دنفس سره جهاد مقدم او اصل دی .

ځکه که دی نفس تابع ونګرځوی او له منهیاتو ځان ونه ژغوری نو څنګه به دکفارو سره جهاد وکړی ترڅوچی لژدی د ښمن له منځه یونسی لری دښمن له منځه نشی وړلی .

په لومړی کی د جهاد دتشریع په باب وایی: کله چه دخدای رسول (ص) په مدینه منوره کی ځای په ځای شو اوخدای تعالی خپل کومک ورسره وکړ او مهاجراو انصاریی سره ورونه وګرځول داسی چه له پلرونو او زامنو څخه ګران او منلی وو. نو دلته دقتال اجازه ورته وشو او په دوی باندی فرض نشو. نو الله تعالی وفرمایل (أذن للذین یقاتلون ....الخ نو له دی ځایه ویلی شو چه دکافرانو سره جهاد، دنفس او شیطان سره جهاد په مکه کی پیل شو.

کله چه داسلام دپاره لښکری او د امن تاتوبی پیدا شو او دا څخه وشوه چه دکفارو لهشرڅخه مسلمانان په امن کی وی نو په قتال سره اجازه وشوه او دلیل دغه آیتؤ چه (ولولا دفع الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع .... الخ) دغه اجازه دخدای په سرمدی عام قانون پوری تړلی چه :

قتال یواجتماعی ضرورت دی چه خلاصون تری نشته دی . دا په اسلام کی په انسان باندې د رحمت وسیله ده هغه انسان چه لار ورکی ؤ او خدای تعالی وغو ښتل چه دروند بار تری لیری کړی په خپل رحمت او رضا کی یی دننه کړی . خدای تعالی فرمایی (**یاایها الناس قدجاءکم برهان من ربکم وانزلنا الیکم نوراً مبیناً فاما الذین آمنوابالله واعتصموا به فسیدخلهم فی رحمة منه وفضل ویهدیهم الیه صراطا مستقیماً**)

ژباړه : ای خلکو! تاسو ته د خدای دلیل راغلی او ښکاره نوریی په تاسو نازل کړی نو همه کسان چه مؤمنان دی په خدای اوپه ده بی منګولی لګولی نو الله به دوی په خپل فضل اورحمت کی داخل اوسمه لاره به ورته وښیی.

۱ - زادالمعاد-ج ۲ ص ۳۸

۲ - زاد المعاد ج ۲ ص ۵۸

ب: یا خدای تعالی په مسلمانانو باندې دکفارو قتال په عامه توګه اوخاصه توګه فرض وګرځاوه یا په بل عبارت سره فرض عین او فرض کفایه یی وګرځاوه : فرض عین په دوو حالتو کی دی ۱- که چیری کفارو تول اسلامی هیوادونه لاندې کړیؤ او ددې هیواد خلکو یی په یوازې صورت سره مقابله نشوی کولی .

۲ - که چیری د اسلام پاچاد اسلام خپرولو دپاره نفیر عام اعلان کړی ؤ .

فرض کفایه هم په دوو حالتو نو کی دی :

۱- که چیری دمسلمانانو لښکر دکفارو دمقابلی دپاره کافی وی.

۲- که چیری اسلامی لښکر داسلام

د ابن کثیر تفسیر - ج ٣ ص ٢٢٥
قرطبی تفسیر- ج ١٢ ص ٦٨ زادالمعاد
ج ٢ ص ٥٧ - ٣- کتاب الام ج ٤ ص ٨٥
ابن قسم په خپل کتاب (زادالمعاد) کی ویلی دی: خدای تعالی د بعثت له وخت څخه دەته په جهاد سره امر کړیؤ. لکه چه پاک خدای فرمایی (ولو شئنا لبعثنا فی کل قریة نذیراً فلا تطع الکافرین وجاهدهم به جهاد کبیراً) که چیری موږ غوښتی نوهر کلی ته مو ویروونکی لیږلیؤ. پس ته دکافرانو اطاعت مه کوه .اولوی جهاد ورسرەوکړەنوداپورتنی‌سورت‌مکی دی چەدکفارو سره دحجت، بیان او دقرآن په تبلیغولو سره د جهاد امرشوی دی.

نو ښایی څرگنده کړو چه دکفارو سره جهاد دنفس دجهاد تابع دی لکه چه نبی کریم صلی الله علیه و سلم فرمایی: چه مجاهد هغه څوک دی چه دخپل نفس سره د خدای په ذات کی جهاد کوی او مهاجر هغه څوک دی چه د خدای دمنهیاتو څخه ځان ژغوری. نو دنفس سره جهاد مقدم او اصل دی.

ځکه که دی نفس تابع ونکړځوی او له منهیاتو ځان ونه ژغوری نو څنگه به دکفارو سره جهاد وکړی ترڅوچی‌لژدی د ښمن‌له منځه یونسی لری دښمن له منځه نشی وړلی.
په اومړی کی د جهاد دتشریع په باب وایی: کله چه دخدای رسول (ص) په مدینه منوره کی ځای په ځای شو اوخدای تعالی خپل کومک ورسره وکړ او مهاجراو انصاریی سره ورونه وگرځول داسی چه له پلرونو او زامنو څخه گران او منلی وو. نو دلته دقتال اجازه ورته وشو او په دوی باندی فرض نشو. نو الله تعالی وفرمایل (أذن للذین یقاتلون ....الخ نو له دی ځایه ویلی شو چه دکافرانو سره جهاد، دنفس او شیطان سره جهاد په مکه کی پیل شو.

کله چه داسلام دپاره لښکری او د امن‌تاتوبی پیدا شو او دا هڅه وشوه چه دکفارو لەشرڅخه مسلمانان په امن کی وی نو په قتال سره اجازه وشوه او دلیل دغه آیتؤ چه (ولولا دفع‌الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع .... الخ) دغه اجازه دخدای په سرمدی عام قانون پوری تړلی چه:

قتال یواجتماعی ضرورت دی چه خلاصون تری نشته دی . دا په اسلام کی په انسان باندی د رحمت وسیله ده هغه انسان چه لار ورکی ؤ او خدای تعالی وغو ښتل چه دروند بار تری لیری کړی په خپل رحمت او رضا کی یی دننه کړی.
خدای تعالی فرمایی (یاایها الناس قدجاکم برهان‌من ربکم وانزلنا الیکم نوراً مبیناً فاما الذین آمنوا‌بالله واعتصموا به فسید خلهم فی رحمة منه‌وفضل‌ویهد یهم الیه صراطا مستقیماً)
ژباړه: ای خلکو! تاسو ته د خدای دلیل راغلی او ښکاره نوریی په تاسو نازل کړی نو همه کسان چه مؤمنان دی‌په خدای‌اوپه ده بی‌منگولی‌لگولی نو الله به دوی په خپل فضل اورحمت کی داخل اوسمه لاره به ورته وښیی.

١ - زادا لمعاد - ج ٢ ص ٣٨
٢ - زاد المعاد ج ٢ ص ٥٨

ب: بیا خدای تعالی په مسلمانانو باندی د کفارو قتال په عامه توگه اوخاصه توگه فرض وگرځاوه یا په بل عبارت سره فرض عین او فرض کفایه یی وگرځاوه : فرض عین په دوو حالتو کی دی ١- که چیری کفارو تول اسلامی هیوادونه لاندی کړیؤ او ددی هیواد خلکو یی په یوازی صورت سره مقابله نشوی کولی .

٢ - که چیری د اسلام پاچاد اسلام خپرولو دپاره نفیر عام اعلان کړی ؤ .

فرض کفایه هم په دوو حالتو نو کی دی :

١- که چیری دمسلمانانو لښکر دکفارو دمقابلی دپاره کافی وی.
٢- که چیری اسلامی لښکر داسلام

نه په فرضی توگه چه یوه پیښه کیږی قرآن کریم د هغه عورج کوی او کله نازلوی داسی چه د فطرت حق او عدالت سره سم وی . په همدی اساس سره دحربی سره جهاد فرض گرځول شوی دی.

ابن القیم وایی (جهاد دهغه چا سره فرض دی چه د مسلمانانو سره قتال کوی او چه قتال نکوی بیانو فرض نه دی. لکه چه فرمایی .

(وقاتلوا فی سبیل الله الذین یقاتلو نکم) ژباړه : او تاسو قتال وکړی دخدای په لاره کی دهغه چا سره چه دتاسو سره قتال کوی . بیا دټولو مشرکانو سره قتال فرض شو په داسی حال کی چه حرام وُ بیا اذن پری وشو، بیا مسلمانان په قتال هغه وخت مامور شول چه کفار دقتال پیل ورسره وکړی. بیا دټولو مشرکانو سره په قتال سره امر وشو

١ - زادلمعاد ج ٢ ص ٥٨ ، ٦٢

خو په یو دټولینو سره فرض دی او یاهم په مشهور قول فرض کفایه دی. په خالص نیت سره جهاد کول: ابو امامه (رض)فرمایلی چه یوسړی د خدای رسول ته راغی او ورته ویی ویل (خبر راکړه ای دخدای رسوله دهغه چاپه باب چه غزا کو ... م اجر غواړی اودم داغواړی چه یادشی) دخدی رسول ورته وفرمایل چه دی سړی ته هیڅ اجر نشته بیا د خدای رسول وفرمایل چه خدای پاک هم عمل نه قبلوی چه دده دپاره نه وی او د ده رضا و نه غواړی یو شخص په دقیامت په ورځ راوستل شی چه شهیدشوی وی. بیا به خدای تعالی خپل نعمتونه ورته یادکړی او دی به اعتراف پری وکړی. بیابه پاک خدای فرمایی چه نو تاد ددی نعمتونو په مقابل کی څه وکړل. دی به وایی چه دتا دپاره می جگړه وکړه ترڅو چه شهید شوم خدای پاک به ور ته وایی چه دروغ دی وویل. بلکه ددې د پاره د جنگ کاوه چه میړنی یاد شی ویل شوی چه : بیا به داشخص کش کړل شی ترڅو پرمخی په اور کی واچول شی .

نوښا یی چه په جهاد کی په نفسی خواهشاتو پسی ونګرځی، یوازی د غنیمت د پاره جهاد ونکړی د شهرت دپاره ونه جنگیږی بلکه خاص دخدای درضا دپاره جهاد وکړی .

په بخاری شریف کی د ابی موسی اشعری (رض)څخه روایت دی چه : یوسړی دپاک خدای رسول ته راغی اوویی ویل چه : یو سړی دغنیمت دپاره جهاد کوی، بل سړی د شهرت اونامه دپاره جهاد کوی ، بل سړی دحمیت دپاره جهاد کوی، نوکوم یو دخدای دپاره جهاد کوی ؟ دخدای رسول ورته وفرمایل : څوک چه دخدای دکلمی د لوړتیا دپاره جهاد کوی نوهغه دخدای (ج) دپاره جهاد کوی . همدارازخدای تعالی جهاد مشروع گرځولی په مختلفو ساحواو وسیلوسره اوهم د لوړو اهدافو دپاره چه مهمې یی دخدای د کلمی لوړتیاده مسلمانان دی پوه شی چه. صبر کول جهاد دی ، علم حاصلول جهاد دی مالی عمل جهاد دی قتال جهاد دی چه دا په اوسنیوشرایطو کی ډیر مهم دی جهاد یوازی دجذبو او احساساتو څرگندولو ته نه وایی بلکه جهاد په زړه سره وی په ژبه ، لاس قلم ، مال اوبیا په توره سره وی ترڅو د خدای (ج) دین لوړ وگرځی. نو خدای توفیق راپه بر خه کړ چه دامسئله ښه اووروښانه کړم . که چیری حقیقت ته نکی رسیدلی وم نودلوی خدای څخه فضل اوکرم غواړم دده احسان منونکی یم اودا کفایت کوی چه داکار می خاص دخدای دپاره کړی دی .

١ - زادالمعاد - ج ٢ ص ٥٨

٢ - البخاری باب من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا - ج ٤ ص ٢٣-٢٥

(نوربیا)

د پکتیا له یو زړور او مدبر قوماندان
پیر سید محراب الدین سره مـــرکه

د هیواد هر مجاهد باید دیو مهربانه او زړه سواند طبیب په حیث د وطن د مصیبت ځپلو پرګنو په ژوبلو زړونو پټی کیږدي

د هیواد د بیلو بیلو جهادي سنګرونو د کتنی په لړ کی زه د پکتیا ولایت د ځمکنیو ولسوالۍ د «منګیاړ د مستقل کنډک» مرکز ته ورسیدم . د کنډک قوماندان پیر سید محراب الدین سره له ستړی مشی او پیژند ګلوي وروسته می د خپلی مرکی په ترڅ کی ورڅخه وپوښتل :

لطفاً په خپل ځان د محاذ د مجلی درنو لوستونکوته ورو پیژ نۍ .

په ځواب کی یـــی راته وویل چی :

زما نوم سید محراب الدین دی د سید محی الدین زوی او د پکتیا ولایت د ځمکنیو ولسوالۍ د پیر کلي اوسیدونکی یم . عمر می ۳۵ کالو ته رسیږی او د مروجو دینی علوموزده کړه می په خصوصي توګه کړې ده . په پښتو او دري ژبو لیک او لوست کولی شم او په انګریزي ژبه هم خپل مشکلات حل کولی شم . پخوا می تجارت کاوه خو د ثور د کمونستي کودتا په نتیجه کی می د کمونستي مستبد ینو په خلاف په جهاد پیل وکړ او له تجارت څخه می لاس واخیست . په ۱۳۵۹ لمریز کال کی لـــه هیواد څخه ګاونډي ورور هیواد پاکستان اسلامي جمهوریت ته مهاجر شوم کورنۍ می د کرمـی ایجنسۍ د کارخانو د مهاجرو په کمپ کـــی اوسیږي او زه دلته د افغانستان د ملي اسلامي محاذ تر رهبرۍ لاندې ددین او آزادۍ ددښمنانو په خلاف جهاد کوم .

ما پوښتنه ګړې وکړه چی تاسی په کومه نیته د ملی اسلامي محاذ سره یو ځای شوی ؟

ده راته وویل :

هغه وخت چی زه په کابل کی وم د حرکت انقلاب اسلامي له مجاهدینو سره می جهاد کاوه هغه وخت زموږ فعالیت پټ او زیر زمیني و . کله می چی خپل فامیل له کابل څخه راویوست نو دلته می له ملي اسلامي محاذ سره تماس ونیو او دد غه جهادي تنظیم له رهبرۍ لاندې می خپل وسله وال جهاد پیل کړ .



کله مې چی له پیر سید محراب الدین څخه د مهمو جهادي عملیاتو په باب پوښتنه وکړه نو ده خپلو جهادي عملیاتو ته داسی اشاره وکړه :

موږ خپل مقدس جهاد د اسلام د سپیڅلی دین او د ګران وطن د آزادۍ د دفاع په مقصد پیل کړی

دی او تر وروستي پراو پورې په دوام ورکوو . ما تر خپله وسه پورې په دغې سیمې کې ددښمن په خلاف له هیڅ جګړې ځخه ځان نه دی دروغ کړی خو دوه ځلي مو دښمن ته کاري ګوزارونه ورکړل .

د ۱۳۶۳ لمریز کال ددلوې په میاشت کې د روسي پوځیانو او د هغوی د کمونستي لاسپوڅو یوه لویه قوه د ځمکنیو په لور راغله د پلو عسکرو یو لوی پوځ یې د لژی او حرم په سر باندې را خور کړی و . مجاهدینو سیمه سره ویشلې وه . موږ د «ځلو» په سر یوه تیزاني حمله ورباندې وکړه . دوی غوښتل چې موږ غافلګیر کړی خو بر عکس موږ دوی غافلګیر کړل . که څه هم زموږ شمیر ډیر کم و خو دلوی خدای (ج)   ه او مد د راسره و په دې بریالي برید کې مو د «خلق پرچم » د کمونستي ګوند ۱۲ تنه غړي له منځه یوړل . غیر ګوندي عسکر تسلیم شول . هغوی مو روغ رمټ په پینځو رکي خپل تنظیم ته بوتلل . پاتی عسکر وتښتیدل . په دغه جګړه کې مو ۳۵ میله وسله ولجه کړه .

دوهم ځل : هغه وخت چې د ۱۳۶۷ کال د جوزا په میاشت کې روسي قوتونه او ددوی ملحد نوکران له ځا ځیو ځخه په ماتی روان شول . موږ ۴ تنه مجاهدین سره یو ځای شوو ـ ۱۵ تنه زما د کنډک او ۲۵ تنه د اندړو د سیمې د بڅان او عزیز تر مشری لاندې راسره ملګري شول .

د سکندر خیلو په سیمه کې مو د «زیر پان» او «نبنتر کي» تر منځ برید ورباندې وکړ . دوه ساعته مو ډیر تیز او تود جنګ وکړ چې په نتیجه کې مو یو چایــــن لرونکی زرهدار ټانک ، دوه عرادې زرهپوش ۱۲ عرادې موتــــر ، درې شیلکا ماشینداري ، ځلور هاوان توپونه یوه زیکوک ماشیندار ، یوه داشکه ځلور ثقیله ماشنندار (زیرکی) او ۱۶۱ میله خفیفه وسله ولجه کړه . ددښمن ځخه مو نهه تنه له منځه یووړل ۱۷ تنه ټپیان شول او پنځه تنه مو ژوندي ونیول . زموږ ځخه هم یو تکړه مجاهد خلیل نور د سید نور زوی د منګیار د علی کـــوزې اوسیدونکی شهید شو . روح یې دې ښاد وي .

د مرګی په پای کې مې ورته وویل چې د مجاهدینو له پاره که کوم پیغام لرې نو موږ به یې د محاذ د ملي لـــه لارې ورتــه ورسوو :

ده په ځواب کې راته وویل :

هو : ویې نه .

زما پیغام د افغانستان د ټولو مجاهدینو له پاره دادی چې انشا الله تعالی زموږ جهاد د بري په درشل ولاړ دی . د روس پوځي ځواک غوځه ماتي خوړلې ده . ګوډاګي رژیم هم یې له تسلیمیدو بله لار نه لري . خو موږ سره له دې هم باید مغرور نه شو .

زموږ ایمانداره او مجاهد ملت د روسي تیری په دې لس کلن ناتار کې دیرې ستونځی وکړا او ونه ګاللي دي . د هیواد د ټولو پرګنو زړونه پر هر پرهر دي . موږ باید د خپلو مسلمانـو خلکـــو رښتیني خدمتګاران واوسو : د هیواد هر مجاهد باید د خلکو د یو واقعی خــدمتګار او د یو مهربانه او زړه سوانـــد طبیب په حیث د وطن د مصیبت ځپلو پرګنو په ژوباو زړونو پټـــی کیږدي . مجاهدین بــاید خپلی ټولی سیاسی او اجتماعي چارې د ولسي ،خوروا او قومي مشرانو له سود منو مشورو سره سمـــی د محمدی (ص) غرا شریعت په رنا کی پر مخ بوزي او په دغه لار کی د علمای کرام عمده رول له نظر ونه غورځوی او په درنده سترګه ورته وګوري .

ما شیندار (P.K.T) نصب در زرهپوش

(ماشیندار)	P - Pulemet
(اسم اختراع کننده)	K -
(تانک)	T - Tang

خصوصیات :

چاپ	(٦٢ ، ٧) ملی متر
مودل	(١٩٧٥)
منزل اعظمی	(٥٠٠٠) متر
منزل موثر	(٨٠٠) متر
منزل دوربین	(٢٠٠٠) متر
سرعت ابتدایه	(٧٥٠) مترفی ثانیه
سرعت دورانی	(٦٥٠) دور در دقیقه
طرز کار	اتو ماتیک
طرز تغذیه	شرید های(٢٥٠) مرمی
تعداد سدورخ	(٤) عدد
گنجایش صندوق شرید	(٢٥٠) فیر
طول میل	(٧٢) سانتی متر
طول فنر ارجاع	(٤٤) سانتی متر
نوع ما شه	ماشهٔ میخا نیکی ، ما شهٔ الکتریکی

این ماشیندار نظر به دور بین نصب شده در زرهپوش بالای دشمن زمینی تامسافه (١٥٠٠) متر انداخت کرده میتواند .

پارچه های بزرگ :

(١) میل مکمل .

(٢) صندوق میکانیزمه .

(٣) ترتیبات متحرک .

(٤) ترتیبات ماشهٔ الکتریکی .

پارچه های میل :

لمبه پت ، چوری محکم کنندهٔ لمبه پت ، جهاز عیار گاز ، کانال عیار گاز ، دستکی حمل ونقل ، کره ـ بست دستکی حمل ونقل ، داخلاً سدورخ ، خوابگاه مرمی مانند شکل (١)

پارچه های صندوق میکانیزمه :

(الف) سر پوش صندوق میکا نیزمه : چوکات شرید ران ، خود سرپوش ، قید سرپوش ، آشیانهٔ محکم کنندهٔ سرپوس ، شرید ران ، شرید گیر .

(ب) صندوق میکا نیزمه : آشیانهٔ میل ، آشیانهٔ نصب شرید ران ، آشیانهٔ دستکی دِک ، قید آتش ،آشیانهٔ های میلک محکم کننده بداخل زرهپوش ، داخلاپوچک پران ، آشیا نهٔ خروج پو چک ، جری های رهنمای ترتیبات متحرک . مانند شکل (۲)



شکل (۱)

پارچه های ترتیبات متحرک :

پیستون ، کره های سرپیسون ، تنهٔ حامل قپاق آشیانهٔ نصب قپاق ، قول تهدید قپاق ، خود قپاق که شامل پیسه کک ، ناخنک ، سوزنک : آشیانهٔ سوزلک جری پوچک پران میباشد ، فنر ارجاع ، میلک فنرارجاع لوحهٔ استناد میلک و فنر ارجاع . مانند شکل (۳)

پارچه های ترتیبات الکتریکی :

ساکت برقی که بداخل زرهپوش نصب میگردد لین ساکت ، پارچهٔ الکتریکی که درقسمت عقب صندوق میکا نیزمه قرار دارد ، ماشهٔ میخا نیکی ، پناه ما شهٔ میخانیکی .



شکل (۲)

طریق خلاص کردن ماشیندار از زرهپوش :

چنین عمل نمائید .

(۱) چرخ عمومی ارتفاعی گهواره را بالا نموده تا میل بالا شود و صند وق میکا نیزمه طرف پا ئین (داخل زرهپوش) بیآید .

(۲) میلک یا پارچهٔ محکم کننده ایکه درقسمت عقبی در زیر صندوق میکانیزمه قراردارد توسط انگشت کلان بطرف پائین فشار گرفته تا سلاح از قید آزادگردد .

(۳) از قسمت عقبی صندوق میکالزمه گرفته سلاح را آهسته آهسته کش نموده تا از گهواره بیرون گردد .

خا طره :

اگر به دوربین انداخت زرهپوش نگاه کنید شما میبینید که در دوربین مذکور دوجدول ترسیم شده است جدول طرف راست آن که تا (۱۵) عدد گذاری شده مربوط به ماشیندار (P . K .T) میباشد .

طریق پارچه کردن ماشیندار :

(۱) بافشار دادن قید عمومی سرپوش صندو ق

میکانیزمه را بالا کرده بعد چوکات شرید ران را بالا نمائید .

(۲) میلک و فنر ارجاع را از داخل صندوق میکالیزمه بطرف بالا بیرون بکشید .

(۳)دستکی دک را عقب آورده ترتیبات متحرک را بکشید .

(۴) قید میل که طرف راست صندوق میکانیزمه قراردارد آنرا بطرف راست کشیده ومیل را به کمک دستکی حمل ونقل طرف پیشرو خارج کنید .

(۵) سلندر گاز طوری ازآشیانه اش خارج میگردد که دو زبانک قید را فشار بدهید .

خاطره :

برادران مجاهد کوشش شود تا این ماشیندار را از زرهپوش سالم خارج کنید ، درصورت امکان بالای گهوارهٔ ماشیندار گرینوف نصب شود در غیر آن از آهن و یا از چوب سه پا ویا تنداق ترتیب نموده از آن استفادهٔ موثر بعمل میآید .



شکل (3)



شکل مکمل ماشیندار P.K.T نصب زرهپوش

د شعر گلبن

عبدالباری غیرت

پلچرخی

زندان په زندانونو کې زندان پلچرخی
مقتل او کربلا د مسلمان پلچرخی
په ظلم او بیداد او په بیرحمه کشتارونو
مثال او نمونه دی په جهان پلچرخی
دوزخ ته به د بدو عملونو خاوندان ځی
دی ځای دنیک کردار اونیک انسان پلچرخی
آواز د تکبیرونو یې جهان را لړزولی
وژلی ځورولی مؤمنان پلچرخی
میدان دبزکشی دانسانانو نه دی څه دی؟
که وګوری یو ځلی پولیګان پلچرخی
دالوی لوی میدانونه لوی بلډنګ او تنګی خونی
جوړ کړی په رښتیادی لوی شیطان پلچرخی
هدونه به یې چیری اوپه کومو شیلو ګورم
خښ کړی په کوم ځای دی عالمان پلچرخی
ناڅاپه سیلاب راغی د دی دښتو په لمنو
را لوځ کړلو بیو زله شهیدان پلچرخی
د کونډو یتیمانو د مظلومو شهیدانو
شاهد دی د ژړاو او فغان پلچرخی
غیرته له ځرخی پله نه به څه خاطری ورمه
چه ځوروبره وسپارل یاران پلچرخی

دمجاهد ترانه

د غلام نبی «کوکب» لیکنه

یو لاس کی قلم بل کی می توره ده افغان یمه
تیر له مال او ځان یمه، تیر له مال او ځان یمه

رب غنی اکبر لرو * پاک نبی رهبر لرو
عزم لکه غر لرو * مینه د سنګر لرو

خدای (ج) راسره مل دی زه سا تو لکی دایمان یمه
تیر له مال او ځان یمه، تیرله مال او ځان یمه

حق دی هر قانون زما * هر دښمن زبون زما
تل به وی مضمون زما * کار زما سمون زما

غوا ړمه یو والی همیشه پدی ارمان یمه
تیرله مال او ځان یمه، تیرله مال او ځان یمه

څو چه ملک صفا نشی * حق نظام بر پا نشی
زړه کی د هیچا نشی * بیا سکون پیدا نشی

څم په سمه لاره زه بیزار له این او آن یمه
تیر له مال او ځان یمه، تیر له مال او ځان یمه

دین د مصطفی غواړم * ښکلی پر دنیا غواړم
مرسته د موالا غواړم * هر ظلم رسوا غواړم

باد یمه طوفان یمه لرونکی د باران یمه
تیر له مال او ځان یمه، تیرله مال او ځان یمه

حق په سر غمونو کی * خوښ یمه دردونو کی
ګرځمه په غرونو کی * د ښتو کی داګونو کی

څو چه می ژوندون وی وفادار ددی پیمان یمه
تیر له مال او ځان یمه، تیر له مال او ځان یمه

وګوره مکتب زما * دین زما ادب زما
دا به وی مذهب زما * نور زما «کوکب» زما

ننګ او شجاعت کی نومیالی د ټول جهان یمه
تیر له مال او ځان یمه، تیرله مال او ځان یمه

م «جبار خیل»

مناجات

ته خاوند د کل جهان یئ
هم په هر چا مهربان یی
لاس نیولی دی مونږ تا ته
د بی وزلو نګهبان یی

—O—

سخو موږ یا چم ګنهګاړ یو
چی روان په کږه لار یو
ته مو مل شی لویه خدایه
دیر بی حده شرمسار یو

—O—

الس او جنس تا پیدا کړی
مونږه تولو دي ، منلي
دغه توان چا سره نه شته
چی دا ولی او چا کړی؟

—O—

زه چی ګورم هری خوا ته
بزدلي شوديره زیاته
د سازش ګرم بازار دی
چی فریاد وکړمه چا ته ؟

—O—

تصرف ستا د نظام ، دی
مونږه کړی هم قیام ، دی
غیر له تا چی تصرف کړی
هسی خوشی بی انجام دی

—O—

له انسانه چی داریږو
ولی خدای نه ، نه ویریږو ؟
بندګی خو داسی نه وی
اخر ولی نه سمیږو ؟

—O—

تول پوهیږو چی خالق یی
د عظیم قدرت لایق یئ
تا ته ورته هیڅوک نه دی
ته له هر څه نه فائق ، یی

—O—

تول غرور را څخه لاړ دی
څه شو اوس ، مسلمانٔ یم ؟
دا په دی چیری کیدی شی؟
زه په هر چا پهلوان یم ؟

—O—

مونږ ثنا صفت کی تا ته
تول و لاړیو هری خوا ته
په تعظیم سر تیتو خپل
سر به تیت نکړو بل چا ته

—O—

میمه‌ته دی‌هم‌ځان ګرم کړه
تو له‌کاروته دی‌نور سم کړه
بس‌یو خدای(ج)ته تیټوه سر
ځان‌دي‌خلاص له‌دغه‌غم کړه

—O—

روانی قافلې

اورنګ زیب (ارشاد)

چه په تیښته نن روانی قافلې دی
دا زمونږ د مجاهدو فیصلې دی

څومره ظلم چه کیدای شوه هغه یې وکړ
اوس دهر افغان پرې جوړې غلبلې دی

چه وعدې یې په ټګی د اشنالی کړی
نن یې ګوري چه دوینو یې ویالې دی

په توبه تو په تاری وهی چه څه
اوس زمونږه ور سرمدیري دعوی دی

په توبو یې نه پرېږدو تر خپل وطنه
څکه نن زمونږه وینی ښی تودی دی

په شروع کې یې شر وع وکړه د قتل
اوس د صلحې په تارویې مری سری دی

کارنامې چه د افغان بچیو کړی
دمبا د تاریخو نو افسانې دی

اتفاق سره تا رتی د اتفاق کړی
د اورنګ تل په زبان داسې ناری دی

لیکوالی: غلام نبی

د روسانو د تیری غندنه

د هر مؤمن په زړه کی جوش د کربلا راغی
چه په شپږم د جدی روس په نار وا راغی

دا هغه ورځ وه چه تیری پکی روسانو کړی
سخت تجاوز د غو بیرحمو ظالمانو کړی

په عقل ضد عمل د هری کمونستانو کړی
پوځی یرغل چه دوی په کور د افغانانو کړی

کلک می یقین په ورکیدو د دی بلا راغی
چه په شپږم د جدی روس په نار وا راغی

زه په و الله (ج) چه باستانی افغانستان یادوم
ډیر په افسوس هره دره ډک له ارمان یادوم
وینې مې څاڅي له زړګي چه مې یاران یادوم
هغه زخمیان په وینو سره هم شهیدان یادوم
غوږ مې زړګي مې څکه تن په واویلا راغی
چه په شپږم د جدي روس په ناروا راغی

داسې ظلمونه په تاریخ کې د هیچا نشته دی
زړه کې بې مینه عاطفه په هیڅ معنی نشته دی
هیڅ په حقوقو د بشر د دوی پروا نشته دی
ننګرینه زیات څوک شرمیدلی هم رسوا نشته دی
هر سرې پوه شو چه لوټمار دی په تالا راغی
چه په شپږم د جدي روس په ناروا راغی

شیندي بمونه زهرجن د ماشومانو په سر
هم د بې وزلو کارګرانو، بزګرانو په سر
عالم تباه شو د یو څو کاسه لیسانو په سر
ددې بې پته، بې شعوره، بې دینانو په سر
تورتم د جهل د وطن په رڼ سبا راغی
چه په شپږم د جدي روس په ناروا راغی

ددوی مسلک مرمی، باروت او هم زندان پیژنم
د عقل ضد، د علم ضد دا ره ماران پیژنم
دا ورانوونکي د جومات، کور او مکان پیژنم
لهخدای (ج) منکر دحق دښمن کمونستان پیژنم
مکر او فریب ته بې په حیرت عقل زما راغی
چه په شپږم د جدي روس په ناروا راغی

چه په دروغو ټول جهان په چل اوول غولوی
دا خو رومان دی چه ښکاره بین الملل غولوی
«کوکب» پوهیږي صرف دهري او بدعمل غولوي
چه تره کي، حفیظ الله او ببرک کارمل غولوی
اوس د تجیب په سر لعنت له هري خوا راغی
چه په شپږم د جدي روس په ناروا راغی

شهدای راه حق

•برادر شهید امیرگل مشهور به پهلوان و لد سر دار محمد مسکو نه قریه جویبار ولسوالی میربچه کوت ولایت کابل مر دی بو د مسلما ن، شجاع وطن دوست‌وقهر مان ،دارای

اخلاق نیکو بوده .در بین برادرا ن مجاهد ازمحبوبیت خاص بر خو د ار بود برادر موصوف بعد از کو دتای منحوس کمونستها جهادراپیشه خود قرار داده در هر عملیات با برادرا ن همسنگر خود دوش بدوش حصه میگرفت.همان‌بود که بالاخره‌به تاریخ ۲جدی ۱۳۶۷ درقریه قلعه‌دشت د ر کمین بر خورد و جام شها د ت ر ا نوشید .

ا ناالله وانا‌ا لیه راجعون

بر اد ر شهید عبدالقدیر فرز ند عبدالقدوس مسکو نه قریه بابه جان شاه ولی مربوط ولسولی شکر دره ولایت کابل در یک خانواده متدین و دیند ار چشم به جهان کشود . موصوف در سن هفت سالگی شا مل مکتب لیسه قلعه مراد بیک گر دید وتحصلات خود را تا صنف دوازد ه ۱۲ در لیسه مزکور ادامه داد. بعد ازکودتای ننگین ثور درسال ۱۳۵۸ نسبت ا حساس مسولیت اسلامی به کشور اسلامی پاکستان هجرت نمود به اساس وطن دوستی و د یندار ی دو باره با برادرا ن مجا هد عا ز م افغانستان گردید. مدت هشت‌سال در مقابل رو سهای وحشی و نو کر ان

دون صف شان از هیچ نوع فداکاری دریغ نورزید. بالاخرهٔ بتاریخ ۲جد ی ۱۳۶۷ درقریه قلعه دشت و لسوالی شکردره ازطرف یکعده خائنین‌دریک کمین نا جوانمردانه به درجه رفیع شهادت نایل گردید .

انالله واناالیه راجعون

شهید ورور مو لوی محمدخان

د مولوی سلطان جان زوی پهٔ قو م سلیمان‌زی‌دپکتیکا ولایت دخیر کوټ دولسوالی‌دبابا ولی‌دکلی‌اوسیدونکی یو تکړه اوزړور مجاهدو ځو ک چی دجهاد به‌اوږدوکي د دهریانو سره په نه ‌پخلا کیدونکوهلوځلو بی دهغوی ی‌شمیره کمونستی‌ځای داور په‌لمبو

ني وسوځول خو په پای کې د ۱۳۶۷
لمريز کال دتلې دمياشتې په ۱۵ نيټه
ددشمن سره په يوه نښته کې دشها دت
عالي مقام ته ورسيد.

انالله وانااليه راجعو ن

شهيد ورور باول خان د ارسلاخان
زوی په قوم سليما نخې د پکتيکا
ولايت دمشر نه د سيمې اوسيدونکی
يو تکړه او زړور مجاهد و چا چې د
د ځوا نۍ په مو سم کې د ر و سي
ښکيلاک گروپه مقا بل کې خپله سينه
دا ل کړ يوه او په د ير مينه بی د
خپلې سيمې په هره جگړه کې دوحشيانو
په مقابل کې جنگيده اوپه هر ميدا ن
کې به بي دشمن ورخطاپه شاه تمبولی
ؤ خو په پای کی د ۱۳۶۷ لمريز
کال دليندۍ د مياشتې په ۲۶ نيټه
هر کله چې دخپلو نورو ملگرو سره
د جهاد سنگرته روان و د د...
شوی ماين په واسطه دشهادت هالی
مقام ته ورسيد .

انالله واناالیه راجعو ن

شهيد ورور گل آغا د عبدالله
زوی دکندهار دولايت دډنډ ناحيی
او سيدونکی و.نو موړی په ۷ ۱۳۴
لمريز کال په يوه ديندارہ کورنی کی
سترگی رونی کړ ې ا و په همد ی
کورنی کی د اسلامی تعليماتوپه ر نا
کې ور وزل شو نوځکه ئی د روسانو
او دهغوی د غلا مانو د کود تا په
راتگ سره خپل متې راو نغښتلی او
په وسله وال جهادئی لاس پوري کړ.
پدې مقدسه لار کی ئي ډيري سربښندنی

اواتل ولی له ځانه وښودله اوهم ئي
ډير کمو نستان د دو زخ کند ې ته
وسپارل .خوپه پا ی کی نوموړ ی د
دشمن دکمين له امله د شهادت لوړ
مقام ته ورسيد.

انالله واناالیه راجعون

برا در شهيد محمد اسلم و لد
ر حيم الدين باشنده منطقه کو تک
رباتک مر بوط مر کز سمنگان بود ه
نا مبرده در عمليات گو ناگو ن عليه



ملحدين اشتراک می ورزيد ودرميدان
معر که ضربات کو بنده ای رابر پيکر
روس واردمی نمود سرانجام به تاريخ
اول دلو سال ۱۳۶۷ هش دريک زد
وخورد رو يا روی که د ر منطقه
مزکور با وقوع پيوست بعدازخسارات
سنگين به دشمن ، برادر مجاهد جام
شهادت را لبيک گفت

انالله انااليه راجعون

برادر شهيد سيدعمر ولد محمد
مير مسکو نه منطقه کو تک ر با تک
مر بوط مر کز سمنگان از آنعده مجاهدين
ملحشور مابوده که در راه نجات وطن

از شر کفر و الحاد از هیچ گونه ایثار
وفداکاری دریغ نو رزید و مر د انه
وار بر ضد ملحدین می رزمیدبالا خره
به تاریخ اول دلوسال ۱۳۶۷ ه ش
دریک زدوخورد شدید علیه دهریان
بعد از تلفات وارده بهدشمن بر ا در
مزکور بد ر جه عالی شها دت نا یل
گردید.

اناالله وانااليه ر اجعو ن

بر ادر شهید خا ل محمد ولد
محمد رازق باشنده ولایت بغلان یک
تن ازفعال ترین مجاهدین غندو حدت
بوده.که‌در راه نابودی الحاد و دفاع
از وطن از هیچگونه جا نبازي دریغ
نورزیده و تاآخرین رمق حیات خو د
درین راه مقدس علیه کمو نستها ی
خداناشناس در ستیز بو د سر انجام به
تاریخ ۱۵ جد ی سال ۱۳۶۷ د ر
یک برخورد شدید علیه دشمن که‌در
حریم ولایت مر کز صورت گرفت‌بعد
از تلفات وارده به ملحدین ، بر اد ر
مجاهد جام‌شهادت رالبیک‌گفت

اناالله وانااليه را جعو ن



شهید ورورگلاجان د گل‌محمد
زوی د کابل و لا یت د سر وبي د
ولسوالي ددوابی د کلی اوسیدونکی
یو په ا سلا م مین ځو ا ن وچی د
کمونستانو دلادینه کودتا سره سم‌بی
دخپلی ایمانی وجیبی په خاطر دخپلو
مجاهدو ورونو سره یو ځا ی ئی په
مقدس جها د پیل کړ چی د دغی
سپیڅلی فریضی په اوږدو کی‌خلقیا نو
اودهغوی گوډاکیانو ته دسر او مال
بی‌شمیره زیانونه ورواړو ل ځو په
ځای کی د۱۳۶۷ لمریز کال دجدی
په ۲۷ نیته د وحشي دشمن‌د فرش
شوی ماین دچاودیدلو په و اسطه د
شهادت لوړی مرتبی‌ته ورسید .

اناالله وانااليه راجعون

شهید ورورنصرالله‌خان مشهور
په کیډي گل دحاجی‌زریم خلن زوی
دپکتیا ولایت دخوست دولسوالی د
مندوزی د کلی اوسیدونکی یوتن د
اسلامی عقیدی خاوند وچاچی د حق
او باطل ترمنځ په معرکه کی په نه
ستړی کیدونکوهلوځلو بوخت اوپدې
لاره کی ملحد ینو ته بی شمیره ځانی
او مالی زیانونه ورواړول ځوپه ځای
کي د۱۹۸۹ عسوی کال د جنوری
د میاشتی په ۱۶ مه نیته د باړي په

سیمه کی دد‌شمن‌سره په یوه نښته‌کی
دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

اناالله وانااليه راجعون

شهید ورور محمدخان دزرین‌خان
زو ی د پکتیا و لا یت د خوست د
و لسوالی ا وسید ونکی و نو مړی په

مقدس جهاد کی نه ستړی کیدونکی
او په زړه پوری کارنامی و کړی او
د یر ملحدین یی ددو زخ کند ی ته
وسپارل څو په پاي کی د ۱۳۶۷
لمریز کال دمیزان د میاشتی په ۲ مه
نیټه د دشمن سر ه په یوه خو نړ ی
جګړه کی د شهادت لوړی مر تبی
ته و رسید . اناالله وانا الیه راجعون

شهیدورور عبدالغفارد آزادخان
زوی دپکتیکا و لایت د خیرکوټ د
و لسوالي او سیدونکی هغه قهر مان
مجاهد ؤ چاچی په پور ه میړانه په
مقدس جهاد کي بر خه د ر لوده او
تل یی د ښمن ته غا بی ما تو نکی
ګزارونه ور کړي اوپه شاهی سمبولی
ؤ څو په پای که د ۱۳۶۷ لمریز
کال دښلی دمیاشتي په ۲۲ مه نیټه
ددښمن سره په یوه‌نښته‌کی د شهادت
لوړی مرتبی ته ور سید.

اناالله اناالیه را جعون

شهید ورو سید محمد دحاجی‌زرجان
زوی په قوم پیردا دخیل د پکیا و-

لایت د څدرانو اوسیدونکی و. نومو-
ړی په یوه دینداره کورنی د اسلامی
تعلیماتو په رڼا کی وروزل شو اوکله
چی کمونستانو په اسلامی افغانستان
کی سیاسی قدرت ترلاسه کړ ، نودی
ورور دلورو مجاهدینو ترڅنګ د
مقدس جهاد په لیکو کی یوځای شو
او په مسلحانه تو ګه یی د کمونستانو
په مقابل کی جګړه اعلان کړه او په
دیرو جګړو کی ئی برخه درلوده ،
کمونستانو ته ئی‌دیری مالی او ځانی
تاوانونه ور واړول اودیر یی‌د دوزخ
کندی ته سپارلی خوبالاخره په‌خپله
سیمه کی له‌روسانو سره یوه مخا مخ
جګړه کی په ۱۳۶۷/۱۰/۱ نیټه د
شهادت لوړ مقام ته ورسید.

انا لله وانا الیه راجعون .

شهید وروروهدالله د اخترجان زوی
په قوم محمود خیل دپکتیکا و لایت د
خیر کوټ د ولسوالي او سیدونکی و
نوموړی په یوه دینداره کورنی کی

زیږیدلی او له اسلامی تعلیماتو څخه
برخوردار وه‌نو کله چی د روسا نو
او دهغوی د ګودا ګیانو په مقابل کی
دسر ښیندونکو مجاهدینو هلی ځلی
پیل شوی نودی ورور هم د اسلامی
جذبی په اساس خپل مقدس جهادپیل
کړ او پدی پا که لار کی یی ډیر
سر ښیندنی له ځانه وښو دلی د یر

کمو نستان او د هغوی بادارانی د
دوزخ کندی ته وسپارلی خو په اخر
کی له دښمن سره په یوه جګړه کی
دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

اناالله و انا الیه راجعون .

شهیدورور دین محمد د دادون زوی
په قوم شالی خیل د پکتیا ولایت د
سید کرم په ولسوالی کی زیږیدلی
و او پدی دینداره کورنی رالوی شو
کله چی روسانو اودهغوی گوداگیا-
نو زمونږ په اسلامی خاوره تعرض
وکړ او سیاسی قدرت یی ترلاسه کړ
نو نوموړی ورور متی را ونغښتی او
دکمونستانو په مقابل ئی خپل وسله وال
جهاد پیل کړ په ډیرو جبهه ئی او
چریکی عملیاتو کی برخه درلوداو سره
دښمن ته ځانی او مالی تاوانوله ور-
اړوای خوپه پای کی له دښمن سره
په یوسخامخ جگړه د۱۸/۷/۱۳٦۷
نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

شهید ورور رحم الدین د دین الله
زوی په قوم علی خیل د پکتیکا ولایت
دخوشامند دعلاقداری اوسیدونکی و
دی ورور د کمونستانو د کودتا په
راتگ سره دمقدس جهاد په لیکو کی
له نورو مجاهدو ورنو سره ځان
بیوست او په مسلحانه جهاد یی
پیل وکړ او په ډیرو عملیاتو کی ئی
دښمن ته غابن ماتونکی ځوابونه ور-
کړی او هم ئی دجهاد لپاره ډیری
سرښندنی له ځان څخه ښودلی دی خو
په آخر کی دروسی وحشیانه الو تکو
دبمبارۍ له کبله په ۱٦/۸/۱۳٦۷
په نیټه د شهادت مقام ته ور سید
انالله وانا الیه راجعون

شهید ورور داود جان د گلزمان زوی
په قوم خروټی دپکتیا ولایت دشمکنیو
ولسوالی د داری درنگ د کلی په
یوه دینداره کورنی کی زیږیدلی ؤ
دی ورور په دغه پاکه خاوره کی
داسلامی تعلیماتو په رڼا کی روزل
کیده.
کله چی د ځوانی موسم ته ورسید
پدی شپو کی روسانو او د هغوی
گوداگیانودافغانستان په پاکه خاوره
یرغل وکړل نوموړی دخپل اسلامی
جذبی په لرلو سره سمدستی د جهاد
سنگر ته په ډیره مینه ور ودانگل
او د گلاب خان د آمریت لاندی په
سیمځلی جهاد پیل وکړچی دنوموړی
آمریت د مجاهدینو سره یو ځای د
دښمن په هری ځالی او پوستی باندی
د ځاځی دواسوالی په هره جگړه کی
برخه درلوده قهرمان مجاهد ډیری
جهادی کارنامی وکړی او په هر
میدان کی یی وحشیانو ته خپله بهادری
وښودله او هغوی ته یی دسر اومال
ډیر زیانونه ورواړول خوپه پای کی
د هغی جگړی په ترڅ کی چی۱۳٦٦ :
لمریز کال دروژی په مبارک میاشت
کی ددهریانو سره د گردي ښوونه په
سیمه کی و نښته وروسته لدی چی
دښمن یی ماتی ته مجبور کړل او
هغوی ته یی بی شمیره ځانی او مالی
تاوانونه ورواړول مجاهد ورور داود
جان ددښمن دهاوان د گولی په لگیدو
سره د شهادت لوړی مرتبی ته ورسید
اناالله و اناالیه راجعون



شهید ورور عزیزالله (بانی) د شهید
محمد اسحق خان زوی دکندهار ولایت
د شهر نو په سیمه کی زیږیدلی او

په همدی مسلمانه او دینداره کورنی کی وروزل شو او بیالی لمړنی زده کړه یی په شاه حسین هوتکی ښوونځی وکړه خو کله چه د غوایی شرمیدلی کودتا په افغانستان کی سیاسی قدرت تر لاسه کړ، نوموړی ورور دایمانی جذبی په اساس د نورو مجاهدینو تر څنگ په وسله وال جهاد لاس پوری کړ او په همدی مقدس لاره کی زښت زیات تکلیفونه او زحمتونه وګاللل او هم کمونستانو ته یی ډیر مالی او ځانی تاوانونه ورواړول په پای کی د دښمن دوحشیانه بمبارکه له امله دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

انالله وانااليه راجعون

شهید ورور محمد اسحاق (بابی) د عزیزالله خان (بابی) زوی د کندهار دولایت دباميزو د کوشی د بابیانو په یوه دینداره کورنی کی زیږیدلی و. لمړی زده کړه یی دخپل پلار څخه وکړه او وروسته ئی خپل تعلیمات د احمد شاه بابا په لیسه کی سرته ورسوله او د عالی تحصیلاتو لپاره د حقوقو

په پوهنځی کی شامل او د فراغت پانه ئی تر لاسه کړه او بیا د دامان اولسوال مقرر کړی شو او هم ئی د ځاځی میدان اودبنت ارچی داولسوال په توګه هم وظیفی اجرا کړی خو کله چی په اسلامی افغانستان باندی د ملحدینو بربند تیری وشو، نوموړی خپل کار پریښود او دمجاهدینو ترڅنګ ئی خپل مقدس جهاد پیل کړ او مجاهدینو سره ئی ډیر نغدی مرستی هم وکړی په پای کی دا ورور دسهار د لمانځه په وخت پداسی حال کی چی د لمانځه د اداء کولو لپاره جومات ته روان وو، د اروسی غلامانو له خوا په شهادت وسید.

انالله وانا اليه راجعون

شهید ورور عصمت الله دمیر عبدالرشید (بیغم) زوی په قوم سعادات د کابل ولایت د کارته چهار دسیمی په یوه دینداره کورنی کی زیږدلی و نوموړی ورور په ۷ کلنی کی د حبیبی په

لیسه کی شامل شو چی خپله زده کړه یی تر یوو لسمی ټولګی پوری په پورتنی لیسه کی ترسره کړه څرنګه چی دثور منحوس کودتا منځ ته راغله دی مجاهد د خپلی ایمانی مسئولیت په اساس د جهاد په لیکو کی دخپلو مجاهدو ورنو سره یوځای په وسله وال جهاد پیل کړ، ډیر جهادی کارنامی یی وکړی دښمن ته یی په هر سنګر کی خپله بهادری وښودله او غاښن ماتونکی ځوابونه یی ورته ور کړل څو په پای کی په خپله سیمه کی د روسانو په پوستو باندی د یو چرکی حملی په ترڅ کی څرنګه چی دوه روسی پوځیان یی د جهنم کندی ته ور وسپارل دا ورور هم د شهادت لوړی مرتبی ته ورسید.

انالله و انااليه را جعون



شهید ورور عبدلرحمن (ملنګ)

د ننګرهار ولایت د کوز کونړ د ولسوالی د شګي د کلی په یوه دینداره کورنی کی وزیږید. لومړی زده کړ

صفحة مفقودة

پولیگون

محمد عاشق فنا

ای قتلگاه مردم بیچارهٔ وطن — ای قتلگاه مردم بیچارهٔ وطن

سوی بلای شیردلان هدایت — روزی در دست قدرت من بر تو بر شود

ای یادگار وحشت و خوف و هراس و وهم — بسوزمت که مردم دنیا خبر شود

پنهان مکن ستمگریهای تباریت — کشتارگاه مردم افغان خراب شد

مردان بیشمار خدا در تو خفته اند — نقش سیاه و سرخ در اینجا بر آب شد

کاینها برای دین خدا جان سپرده اند — آن وقت بر خرابهٔ تو بیرق شهید

حقا این ستمزدگان بهشت رس — در اهتزاز گشته با امید بدمید

بر وفق قول پاک خدایی نمرده اند — کاینجا زیارتیست ز آزادگان حق

لیکن — کاینجا خزانه ایست ز دردانه شهید

آدرس ما: محاذ ملی اسلامی افغانستان ریاست فرهنگی مدیریت عمومی نشرات پست بکس: ۵۳۲ پشاور — پاکستان

دچاپنې